لپونتوب

وښاوال:
اکمل لپونے

زرپانه پرنټرز، پبلشرز پېښور
یونیورسټی روډ فواد پلازه دوېم منزل
فون: (091-5841372) ایمېل: (zarpanra@yahoo.com)

Download from: aghalibrary.com

د کتاب حقونه خوندي دي

د کتاب ځانګړتیا:

د کتاب نوم:	لېونتوب
وېناوال:	اکمل لېونے
اول چاپ:	۲۰۰۵ء
دوېم چاپ:	۲۰۱۰ء
چاپ ځائے:	زرپاڼه پرنټرز پېښور
کمپوزر:	رحمت دیوان (0345-7030719)
چاپ شمېر:	زر ټوکه (۱۰۰۰)
بیعه:	100 روپے

زرپاڼه پرنټرز، پبلشرز پېښور

یونیورسټی روډ فواد پلازه دوېم منزل

فون: (091-5841372) ایمېل: (zarpanra@yahoo.com)

Download from: aghalibrary.com

ټرون

د خپل هغه لېوتتوب په نوم چې ما د پښتو دپاره د پښتونخوا په غرونو، مېدانونو، کلو، حجرو او لارو کوڅو کښې اوس هم په دې هیله ګرځوي چې:

څانګه به ټن سپا کښې ګل شي
ما یې په سر کښې غوټې لیدلې دینه

Download from: aghalibrary.com

خپلې خبرې

زما دا د شاعرۍ درېم کتاب دے چې لېوټتوب نوم مې ورته خوښ کړے وو او د مردان دوه وو مشهورو استادانو شاعرانو شمس القمر اندېش صېب او ډاکتر اسرار صېب پرې راله دوه کاله مخکښې لیکل هم کړي دي او کمپوزنګ يې راته د دانش خپرندويې ټولنې مالک ګران ملګري اسدالله ساپي کړے وو چې يو کال د هغه سره پروت وو زما حال ټولو ملګرو شاعرانو ته معلوم دے چې د پيسې درک راسره نشته، چې په پښتو مئين چرته پېدا شي او مالي مرسته راسره وکړي نو هله زۀ کتاب چاپ کړم.

بل ملګري شاعر هم د لېوټتوب په نوم کتاب چاپ کړو چې د کمپوزنګ او چاپ کولو کار يې ټول اسدالله ساپي ته حواله کړے وو، هغه ورته اووې، چې لېوټتوب خو د اکمل لېوني کتاب دے او مونږ سره پروت دے، چاپ ته تيار دے. هغه شاعر ملګري ما سره په خپله ميلاو شو او راته يې وويې، چې ته ورله لېونے لېونے نوم کېږده ما ورته وې چې وي په ستا خپله شاعري ده او زما خپله او اخيستل او بيا لوستل يې د خلقو کار دے.

نو دادے زما لېوټتوب، چې په پښتو مئينو پښتنو ته يې وړاندې کوم.

ستاسو اکمل لېونے.

Download from: aghalibrary.com

اکمل لېونے

اکمل لېونے د خپلې مورنۍ پښتو د شعر په دنیا کې یو یاد او نومورے نوم دے. هغه د پښتو د ادبي محفلونو، هم ښکلا ده او رڼا او ځلا. هم ضرورت دے او هم زېب او زینت، هغه د خپل ځان او جهان خپل ژوند او خپل فن سره اړه لرونکي مقصدونه د خپل شعر د ګلونو، رنګونو او ګل زارونو په لار، د خپلو مئینو، خپلو لوستونکو او د خوږې پښتو د ویونکو زړونو ته د محبت د ښکلي او خوندورې ډالۍ په توګه رسوی. د فارسۍ ژبې لویې شاعر حافظ شېرازي په خپل یو شعر کې د خپل ځان په باره کې وایي چې:

"ما چې د خدایه څۀ موندلې دي، نو د خدای فضل دے او زۀ د خدای ډېر ډېر شکر ګذار یم، چې هغه مې د خپلو متو په زور ګټلې دي".

او زه وایم که دا خبره مونږ د اکمل لېوني په حقله څۀ قدري په پام او خیال سره وکړو. نو ډېره بې ځایه به نۀ وی، د خدای د لوري پېرزو شوې شاعري، هغه په رښتیا چې یوه بې بها پنګه ګڼلې ده او د زړۀ د اخلاصه یې د هغې قدر او قیمت منلے دے.

Download from: aghalibrary.com

هغه بس دغه هومره نۀ دي کړي، چې خپل خيال او جذبه يې د شعر د هنر پۀ وزرو کاغذ ته رسولي دي. هغه د خپل اواز پۀ ساز پۀ خپل شعر د هر اورېدونکي زړۀ خوښ کړے دے.

هر چاته د خپل ژوند ، وخت او حالاتو د غوښتنو پۀ لاړ رسېدلے دے. د کتابونو ګاټلی پۀ غاړه هر ادبی مجلس او محفل ته تلے دے او هر چاله يې د پښتو د کتاب د اخيستو بلنه ورکړې ده. دغه شان اکمل لېونے پۀ دې کار کې سيال او سارے نه لري، چې کتاب يې د برش روپی من تللو ته نهـ دے پرېښے "تورتم" د هغۀ د شعورنو وړومبنے کتاب وو، چې هر ځل د زرو کتابونو پۀ شمېر شپږ ځله چاپ شوے او خرڅ شوے دے او بيا "چپاوۀنه" د هغۀ دوېم کتاب دوه ځله چاپ شوے دے او هر ځل زر کتابونه پۀ کومه مينه، جوش، جذبه، احساس، اخلاص او محنت چې هغه شعر ليکي هم هغه شان د خپل شعر، خپلې خبرې او خپل پېغام رسولو کار ترسره کوي.

او دا هم د هغۀ د بريالو هلو ځلو او شواخون برکت دے چې دادے هغه يو ځل بيا ستاسو په وړاندې د خپلې شاعرۍ درېم کتاب پۀ لاس ولاړ دے. د خپل فن او فکر د ښکلا او رڼا سره د خپل ساده بيان او د خپل قلم د زور او توان سره او پۀ هر مضمون کې د خپلې جذبې، خپلې ارادې، خپل تعين او خپل

Download from: aghalibrary.com

امید د پلوشو سره مذهب، سیاست، غریبي، ناداري، بې انصافي، ظلم زور، منافقت، دښمنۍ، بد امنۍ، تربګنۍ، ځان ځاني، مینه، ښائست، پښتو، پښتونولي، ښې بدې او د خپلې زمانې سره ټرلې نورې ډېرې خبرې د هغه د شعر د دې نوي کتاب د فکر او ذکر توکي دي او د اکمل دپاره د دې هر څه یوه مانا، یو عرض او یو مقصد دے او هغه دے د خپل قام او وطن ابادي، ښېرازي، خوشحالي، سوکالي او یو داسې ژوند چې د هر لوري د شرافت او سړیتوب غوښتنې پوره کوي او په دې لړ کې چې هغه څۀ وایي د خپل شعر د هنر په اوستکاره ښکلې خوږه او خوندوره ژبه یې د څۀ یرې، ترهې، بې د څه طمعې اسرې، په ډاګه او ډنګ پېښلې وایي. په داسې ډول او داسې انداز سره، چې بنده پخپله حق او حقیقت ته سلامي شی.

اکمل د مردان ضلعې د شموزو کلي اوسېدونکے دے کوم ځایې چې د غرۀ او سمې قدرتي ښائست یو بل سره غاړه غړۍ دی او هر وخت یو شاعرانه نظر ته سترګې سترګې. اکمل هم د دې ځایه د خپل خیال پۀ نیلي سور د خپل وطن پۀ لر و بر تر لرې لرې ګرځېدلے دے. د خپل وطن او قام دپاره دي و جنت جنت، سپرلي سپرلي ژوند په ارمان او امید.

Download from: aghalibrary.com

د اکمل د شعر ژبه روانه، ساده او اسانه ده، نۀ خو يې پۀ مانا او مقصد د پوهېدلو او نه يې پۀ جامه او جوړښت د ګوتې اېښودو څۀ ځايې شته. هغه د خپل قدرتي پوهې، خپلې مشاهدې، خپل احساس او خپل اخلاص پۀ زور شعر وئيلے دے. د هغه اواز د هغۀ د لوستونکو او اورېدونکو د زړونو تل ته کوزېږي او لکه د سپرلي د سحر د پرخې د هر يو پۀ روح ورېږي.

خداى دې پښتنو له پۀ دې بابله پوهه، پام او توفيق ورکړي چې خپله ژبه ژوندۍ اوساتي او د دې مقصد د ترسره کولو دپاره بس او بس يوه لاره ده او هغه دا چې پښتو دې د تعليم او دفتر ژبه شي، تر څو چې مونږ خپلې مورنۍ ژبې له دغه حق اونۀ ګټو، زمونږ ټولې ادبي هڅې او هلې ځلې به ځايې اونۀ نيسي. بې د خپلې مورنۍ ژبې د خپلولو نه به مونږ پۀ يو داسې لور روان يو چې سر يې د پښتون قام د پېژندګلو او پښتو ژبې پۀ ورکېدو لګي.

اندېښ شمس القمر

۱۷ اګست ۲۰۰۳ء

Download from: aghalibrary.com

د اکمل لېونتوب

اکمل لېونے په ړومبي ځل ما د مردان په يوه مشاعره کې يو شل کاله به يې کېږي چې لېدلے او اورېدلے وو د څو ټوقو ټقالو نه علاوه يې چې دغلته کوم غزل په خپل مخصوص ترنم کې اورولے وو دا يو شعر يې ماته د هغه وخت نه ياد دے:

کم عقله خلقه تاسو غم او ښادي څه پېژنئ
تياره بې وسو له پړده د ډيرې مۀ بلوئ

د دغه شعر په وجه ورسره زما پېژندګلي پېدا شوه، د دۀ اهميت او د دۀ شعري استعداد راته معلوم شو، بيا چې به په کومه مشاعره کې اکمل لېونے موجود وو نو خوشحاله به ووم چې ځه که خبر وي مشاعره به کاميابه او خوند ناکه وي او اورېدونکي به دا نه شي وئيلي چې دا مونږ چاته راغونډ شوي يو.

اکمل لېوني زما نه ډېر مخکښې د مردان شاعرانو پېژندلے او خوښ کړے وو او يوازې د مردان ملګرو څۀ چې اکمل د ميډيا د مدد نه بغير خپل شعر د ترنم د خوږو سره د پښتونخوا ګوټ ګوټ ته رسولے دے او د لکونو پښتنو نه يې دا راخستے دے.

Download from: aghalibrary.com

اکمل وائي:

ما د حيا نه پوهه ځان ناپوهه کړے ورته
داسې نور کم خلق پوهېږي څنګ چې زۀ پوهېږم

د دې داخلي شهادت په رڼا کې مونږ وئيلے شو چې دے لېونے نه دے، خپل کور کلے، لاره کوڅه، حجره جمات، خپل پردے، دوست دښمن او خپله ډله ټپله پېژني، دے وائي چې "ما د حيا نه" خو زه وايم چې دۀ له قصده په دې غرض دا تخلص خوښ کړے دے، دې د لېونو په جامه کې ګرځي د خلقو او د چاپېرچل تماشه کوي ګوري چې دا خلق دا د کلو، ښاريو او بازارونو خلق، دا سرمايه دار، جاګيردار، دوکانداران، زميندااران، عالمان، لېډران او د حکومت واکداران او اهلکاران څۀ کوي، دوي په ظاهره څنګه دي او د دوي باطن څنګه دے، دې چې څه ويني ګوري په لفظونو کې د هغې تصويرونه جوړوي اوو دغه د شعر تصويري ائينه خلقو ته مخامخ نيسي چې دا تاسو يۀ او دا ستاسو کارونه او دا ستاسو نمونې دي او ورته وائي:

دي ژړا وير ماتونو ته دې خيال دے
دې قتلونو دې مرګونو ته دې خيال دے
انسانان لکه څاروي پکښې خرڅېږي

دې مېلو دې بازارونو ته دې خيال دے
چې غل بري کړي کوتوال غريب پانسي کړي
د انصاف عدالتونو ته دې خيال دے
اسلام نه اسلام اباد ورپکښې ستائي
دي وعظونو تقريرونو ته دې خيال دے

اکمل لېوني د خلقو شاعر دے، د اولس شاعر دے او د اظهار دپاره يې د اولس اسانه ژبه غوره کړې ده ځکه چې د دۀ مخاطب عام اولس او ټول خلق دي او هغوي ته هم د هغوي په روزمره او محاوره کې نېغه په نېغه خبره کوي، کله په سنجيده انداز، خو زياتره په مزاحيه انداز کې خپل خيال وړاندې کوي، د دۀ مزاح، او طنز مقصدي او تعميري دے، ځکه چې دې د خلقو خيال او پام د هغوي غلطو، کمزورو، کمراهو او منافقتونو ته راګرځوي، د دۀ د نظمونو او غزلونو هم دغه مرکزي موضوع ده، دۀ خپل غمونه هېر کړي او د خلقو غمونه يې خپل کړي دي، دا خبره دے په يو رنګ او کله په بل رنګ کې د خلقو مخې ته ږدي، "ځمه د دې کلي نه" نومې نظم کې يې دغه غم څۀ په دې رنګ ژړلے دے:

نور ورپکښې نه اوسمه ځمه د دې کلي نه
کډه په حيا کې چرته وړمه د دې کلي نه

نور ورپکښې نه اوسمه زړۀ مې تړې موړ شوے دے
ننګ غيرت د خلقو د زړګو نه نچوړ شوے دے
اوس د پښتنو تاريخ هېر شوے دے زوړ شوے دے
څۀ به وايم ښاړې ناپرسان ترښه جوړ شوے دے
زه خو قدرتي له وېرې مرمه د دې کلي نه
کډه په حيا کې چرته وړمه د دې کلي نه

دا چې:

ختم شريفا شو بدمعاشان يې مشري کوي
وينم چې د امن قاتلان يې مشري کوي
نوره مې د خېر نه کېږي طمعه د دې کلي نه
کډه په حيا کې چرته وړمه د دې کلي نه

په ننني وخت کې دا د پښتنو د هر کلي نقشه ده چې اکمل په لفظونو کې راکښلې ده "اوسه پکښې مه"، "غل"، "انصاف" او "حق او باطل" نومې نظمونو کې يې هم غه ژړا ده.

اکمل لېونے يو نظرياتي او قوم پرست شاعر دے، داسې شاعر چې تشې خبرې نۀ کوي قول يې د عمل او عمل يې د قول مطابق دے، د پښتنو د قومي تحريک سره پوخ تړون او کلکه وابستګي لر، ړوند تقليد نۀ کوي، په نورو د تنقيد کولو سره د خپلې ډلې د ليډرانو په کمزورو او غلطو هم تنقيد کوي، په

ځينو نظمونو لکه "انقلاب"، "پښتو او پښتون"، "چغه" "پښتونخوا" او "د مزدور حال" يې سياسي رنګ زيات غالب دے چې خپله قومي او طبقاتي وابستګي يې پکښې ښکاره کړې ده، په "رښتيا" نومې نظم کې پرې د پتولا د ډډې شوے دے:

زهٔ په خپل کور کې د اوبو ډوډۍ حقدار يم که نه
مانه چا اونکړه پوښتنه چې نهار يم که نه
د دوزخي ګډې له لاسه ګنهګار يم که نه
دومره څوک نه وائي چې روغ يم که بيمار يم که نه
د وطن داسې مشرانو ته به څهٔ ووايم
دې پښتنو ته به په خپله ژبه مړهٔ ووايم

اکمل لېونے ډېر ګرځېدلے او لوبېدلے شاعر دے، د ډېرو تماشو نه پس په دې نتيجه رسېدلے دے چې:

دروغ وائي رښتيا خبره کوم ده چې چا وکړه
ښه سپينه او صفا خبره کوم ده چې چا وکړه
جرګه کې د سپين روبو بزرګانو مشرانو
د غلو هغه د غلا خبره کوم ده چې چا وکړه
هر خواته د مړې خېټې خبرې دي چې کېږي
د وږو د مرضا خبره کوم ده چې چا وکړه

"ګلونو ماشومانو" او "سپرليه په خيرونو" کې اکمل د خپلې شاعرۍ يو بل رنګ هم ښودلے دے په ډومبني نظم کې يې چې د قوم ماشومانو ته لکه د لقمان حکيم کومې د کار خبرې کړې دي هغه د نوټ کولو جوګه دي، په دوېم نظم کې يې د سپرلي د راتول ښکلې منظر کشي کړې ده:

دې للمو ته چې ګورم پکښې پولې پولې که پټې دي
قدرت پرې غوړولي څادرونه د شينکي دي
راکاږي ځان ته زړونه ښکلاګانې د فصلونو
سپرليه په خېرونو

پېښترے که چيلو، کور کمانے که تروپکے دے
قدرت پرې دور راوستو که کندو که شلخے دے
راوړي د کلي جونه تړې پنډونه د ساګونو
سپرليه په خېرونو

اکمل لېونې په دې کتاب کې غزلونه هم شامل کړي دي، د غزل په شعرونو کې يې هم پختګي شته، ژبه يې اسانه او روانه ده، د سنجيدګۍ نه ور کې د مزاح او طنز چاشنې زياته ده:

وخت د رښتياؤ دے په زوره وايم
ماله خبره په مزه نۀ راځي

ښکلیه یاره چې یې څومره ترخوې ته
عجیبه ده لا خوږږې ستا خبرې
ما درسره سم سپین ږېرې ځان وړوکے کړېدے
یه د لېونې اکمل جانانه مجبورې مې ده
دې وخت د ملاقات کې خو څوک مۀ راولے خدایه
دلاسه مې نیولے، ودرولے دے جانان
سرۀ سپین د چا نه، نۀ وړم کلیوالو تنګ نظرو
د مینې لېونے د دیدن غلا ته اوړم راوړم

داسې به په دې مجموعه کې لوستونکي د اکمل نور ډېر ښۀ ښۀ شعرونه ولولي او پوره خوند به تري واخلي، په دې مجموعه کې څو مرثیې او څو "سهرې" هم شاملې دي، غم او خوشحالي د انسان ژوند سره تړلي څیزونه دي، د ملګرو په وادۀ خوشحالیۍ خوشحاله کېدل او په جدایۍ یې غمجن کېدل قدرتي خبره هم ده او د شاعر د خپلو دوستانو، مشرانو او کشرانو سره مینه او علاقه مندي هم ښکاره کوي او د ټولنیز ژوند سره د دۀ کلک تړون هم څرګندوي.

دا د اکمل د شعرونو درېمه مجموعه ده چې د پښتو ژبې مئینانو ته یې ډالۍ کوي، اکمل پښتانۀ او پښتانۀ اکمل پېژني چې یو ریښتونے شاعر دے، مخلص دے، په دې غریبه

غريبۍ کې او په داسې وخت کې چې د څنګ ډېر ملګري يې په يوه يا بله بهانه د قافلې نه بېل شوي دي، دۀ د باچا خان د پښتو، پښتونولۍ او د پښتون د وحدت او وروروليۍ ببرغ هسک نيولے دے ځکه خو د پښتنو اکمل لېونے او د دۀ شاعري خوښه ده، د دۀ شعرونه په ډېر شوق اوري او د دۀ کتابونه اخلي او لولي يې.

محفل کې د خبرو د کولو خلق ډېر وۀ
اکمله بې له تا خبره کوم ده چې چا وکړه

ډاکټر اسرار

هوتي مردان

۲۰۰۳/۱۲/۲۸ء

نعت

چاپېره په جهان کې يو تورتم د جهالت وو
هر خواته لور په لور شوکې ډاکې قتل و غارت وو
هيڅ امن چيرته نه وه ظلم جبر وۀ وحشت وو
په زړۀ کې د يو بله د هر چا کرکه نفرت وو
وحشيان وو يو انسان به ويريده د بل انسان نه
بنديان وو خو سرکشه ټول باغيان وو د الله نه

(۲)

سجدې به يې د خدائې په ځائې بتانو ته کولې
د ټولو ګمراهانو عقيدې وې بيلې بيلې
يو تن به جبرني په لار کې بنديې اوغوزولې
هم دغسې بل تن به تري په توره اوهلې
سنګيني دبنمني يې تر پېړو پېړو پاللې
هم دغه ظالمانو ژوندئ لونه خښولې

(۳)

هـغ بـه معـذره وه چـې چـا ډبـر کـول جرمونـه
څښـول يـې د يـو بـل پـه ککـرو کـې شـرابونه
کـول يـې د کعبـې نـه پـه بربنـډه طوافونـه
غلطـې عقيـدې، غلـط رسـمونه رواجونـه
تيـرے د جهالـت او ګمراهـي پـرې راخـورې وې
څهـرې د انسـانانو د يـو بـل پـه وينـو سـرې وې

(۴)

خـدائې اوغوښـتل نقشـه يـو دم بدلـه د دنيـا شـوه
پيـدا شـو محمـد اخـر زمـان دنيـا رڼـا شـوه
راتلـل يـې بختـور وو معطـره پـرې فضـا شـوه
مـاحول د جهـان مينـه، محبـت، ښـکلا ښـکلا شـوه
بـدلې دښـمنۍ او تربګنـۍ پـه رورولـۍ شـوې
نظام د انصاف، عدل، امن راغلو خوشحالۍ شوې

غزل

سندرې وائي دار ته په ختلو لېونې
اړنه دي د سرونو په شيندلو لېونې

د امن قاتلانو دا وطن به په ځان اور کړئ
لا ښه راژوندي کېږي په وژلو لېونې

دا هسې د دې خلقو يو رواج دے يو دستور دے
جوړ شوي چرته نه دي په تړلو لېونې

ما ډېر داسې ليدلي بيرته بيا ندي راغلي
چې ښار ته چيرته تلي دي د کلو لېونې

د عقل خاوندانو څه کمال پکښې ضرور شته
دا خاندي چې د کانړو په ويشتلو لېونې

ربښتيا دي د جهان په سود او زيان يې څه کار نه وي
اکمله څوک چې مينو کړۀ د ښکلو لېونې

لاسونه

مونږه که هر څومره اوګده کړۀ خپل وارۀ لاسونه
قابض مو نه کړه د ظالم په ګرېوانه لاسونه
د غلامۍ د ژوندون دغه نتيجه اوخته
همیشه بل ته مو نيولي وي خوارۀ لاسونه
پته يې لرې د سپېرو کړو وړو کرښو نه
نور په چا نه ګورو ملګرو دا سپېرۀ لاسونه
په هيڅ هنر بيا د پيوند د اغستلو نه دي
مغلو مات کړل پښتنو له پښتانۀ لاسونه
منم پاسته وو خو حلال يې کړو د ستې د غاړې
مونږه يې اوليدل د ترۀ او د ورارۀ لاسونه
خدايه دا څه په زورورو اوړېدلے يمه
راته راکاږي د زرګر غوندې په زړۀ لاسونه
د وينو رنګ دې تلې تر نشي څه نکريزې ندي
راشئ زمونږه د قاتل اوينۍ سرۀ لاسونه
مجرم جرات کۀ مو مجبور کړي په اظهار کولو
وئيلے هيڅ نه شو پراته مو دي په خُلۀ لاسونه
يو بل له لاس د يو کيدو هم ورکولے نه شو
اکمله مونږه پکښې نه پېژنو غله لاسونه

رښتيا خبره

دروغ وائي رښتيا خبره کوم ده چې چا اوکړه
ښه سپينه او صفا خبره کوم ده چې چا اوکړه
ما وې درته جانانه ځه په خپله چې پخلا شو
تر مينځه زما ستا خبره کوم ده چې چا اوکړه
جرګه کې د سپين روبو بزرګانو مشرانو
د غلو هغه د غلا خبره کوم ده چې چا اوکړه
د ځان دپاره هر سړے پښتو کوي پښتون دے
د خواري پښتونخوا خبره کوم ده چې چا اوکړه
هر خواته د مړې خبټې خبرې دي چې کښړی
د وړو د مرضا خبره کوم ده چې چا اوکړه
د کرکې د نفرت خبرې هر طرفته اورم
د مينې د وفا خبره کوم ده چې چا اوکړه
چړې دي چې رانښکے شي په مړی د مظلومانو
ظالم له د سزا خبره کوم ده چې چا اوکړه
د يو د بل په طمعه خلق پرېوتو په شک کښې
تېرو کې د رڼا خبره کوم ده چې چا اوکړه
دې دور کې هر څوک د زورورو ډله ګوري
زمونږ د ملګرتيا خبره کوم ده چې چا اوکړه

خبرې نن سبا ټولې په مخ په ملاحظو دي
بې رویه بې ریا خبره کوم ده چې چا اوکړه
محفل کې د خبرو د کولو خلق ډېر وو
اکمله بې له تا خبره کوم ده چې چا اوکړه

مړ شومه کارونو کړم زړې زړې
سختو روزګارونو کړم زړې زړې
خلق مومي غرونو کې د سرو غمي
ځه مې خپلو غرونو کړم زړې زړې
اے زما بې ننګه بې پښتو یاره!
ستا په سر شرونو کړم زړې زړې
خوا کې چې زما رقیب ته اوخاندې
دغه تدرونو کړم زړې زړې
کله به منزل ته د مقصد رسم
دشتو ریګزارونو کړم زړې زړې
خلقه زۀ اکمل ورسره څه اوکړم
دې خپلو شعرونو کړم زړې زړې



د خپل نظر د تندرونو درته څه پته ده
مونږ دې پرې اوسو د اورونو درته څه پته ده
په محلونو، په بنګلو کې اوسېدونکو خلقو
زمونږ د خاورو د کورونو درته څه پته ده
وار به مو تېر شي ظالمانو د ظلمونو اخیر
د مظلومانو د اهونو درته څه پته ده
اے د لالچ تېرو کې ورکه د نامې پښتونه!
د باچا خان د مشالونو درته څه پته ده
ځان ته مغروره د دولت په نشه مستو واورئ
د وږو تږو اولسونو درته څه پته ده
دې موجوده دور کې هیڅ د اغستلو نه دي
یار د څیزونو د نرخونو درته څه پته ده
اکمل به څه د سپېره ژوند قیصه بیا بیا تېروي
بس خو ښه نه دي د وختونو درته څه پته ده

اوسه پکښې مه

ماته د دې کلي دومره لرې اندازه
اوسه پکښې مه په مېلمستيا ورته رازه

(۱)

ماته د دې کلي دومره اولګېده پته
ځه يې اوس خبر شوم څه نا څه د حقيقته
دلته د انسان وينه ده ډېره بې قيمته
يو اخلي غلط مطلب د بل د شرافته
ورک پکښې نادار دي او بادار دي په مزه
اوسه پکښې مه په مېلمستيا ورته رازه

(۲)

دلته خپل څوک نه پېژني قدر د پردو کوي
دلته رور د رور د سر خبره په پيسو کوي
دلته د خپل کور څوکيداري خلق په غلو کوي
دلته مغل لرې مشري په پښتنو کوي
وتې تري پخوا د غېرتونو جنازه
اوسه پکښې مه په مېلمستيا ورته رازه

(۳)

دلته مري د لوړې د دې کلي باشنده خلق
دلته کې د غېرو نه زارېږي نادیده خلق
دلته د غرض هوښیارو اوخوړل ساده خلق
دلته د غټانو دښمنان دي پاسمنده خلق
دلته هر یو کار کېږي په مخ په ملاحزه
اوسه پکښې مه په مېلمستیا ورته رازه

(۴)

دلته کې چې اورم بس د زر او زور خبرې دي
دلته دا تضاد دے چې د سپین او تور خبرې دي
دلته امن نشته بس د شر او شور خبرې دي
نن د پېښور مثال د اور او ګور خبرې دي
دلته ن پاسپورټ د خلقو لږي نه ویزه
اوسه پکښې مه په مېلمستیا ورته رازه

(۵)

دلته کې غل بري شي کوتوال سزاوار کېږي
دلته د ظالم په ځائې مظلوم سړے قتلېږي
دلته کې د وږو حق مړو ته ملاوېږي
دلته کې **اکمله**! اپوټه نظام چلېږي
کډه تري نه نغاړه په حیا کې تري نه ځه
اوسه پکښې مه په مېلمستیا ورته رازه

یاران

چاته به څه وایم چې څه دي یاران
په خُلۀ خوارۀ په زړۀ تراخۀ دي یاران
هیڅ یې تر مینځه اعتماد نشته دے
په ساؤکي یو بل ته پراته دي یاران
لیدل یې څه په نه لیدلو خوښ دي
داسې د یو بل نه مارۀ دي یاران
نشته دے اوس د محفلونو مزې
وینم تس نس خوارۀ وارۀ دي یاران
چغې وهمه ورته نه یې اوري
داسې د مرګ په خوب اودۀ دي یاران
د کاره اویست تیرو د زړونو
د ژوندانه په ارمان مړه دي یاران
ورسره کور او کلے ګران دے نشي
زۀ د ناکامه وایم ښه دي یاران
اکمله! ځان تړې نه رااونغارۀ نور
اوس د پخوا پشانته نه دي یاران

ګزاره

څنګه چې يوه ځائې اور او اوبۀ ګزاره نه کوي
دغسې د سازو سره غله ګزاره نه کوي
وچ کانې د خوړ دي که د بوال ترې په هنر وهم
يو بل نه خوئبړي پښتانه ګزاره نه کوي
مخکښې به ټول چم کې اغږل پخول يو ځائې وو
اوس دوه زنانه په تنه ګزاره نه کوي
ما چې د خپل زړۀ په کور کې ځائې کړه کوربانه مې کړل
نن راسره هغه مېلمانه ګزاره نه کوي
ځوې به د ځامنو لونو پلار شه د مور پلار په کور
اوس تر دريمې ورځې د وادۀ ګزاره نه کوي
لاړله خبره د زرګونو د لکونو شوه
څوک هم په پنځوس او په شپېته ګزاره نه کوی
نور نور خواهشونه يې په زړه باندې وربږي لا
شېخ صاحب هم صرف په مانځه ګزار نه کوي
پام کوه دهوکه نشې **اکمله!** ملا پرمې تړه
وږو سره هيڅکله مارۀ ګزاره نه کوي

غزل

چې د وطن او قام په ښه نه راځي
ماله د هغه چا نامه نه راځي
هغه اولاد دې په بلا اولړي
چې پرې د مور او پلار دمه نه راځي
هسې مې مه مجبوره وه واعظه
د سپرلي ورځې دي توبه نه راځي
وخت د ریښتیاؤ دے په زوره وایم
ماله خبره په مزه نه راځي
زما ساده زړګیه مه تېروزه
ښکلي هیڅکله په وعده نه راځي
اکمله! غم باندې یې واړولم
اوس مې اشنا په تماشه نه راځي



ستا په خوږه ژبه خوږه خبره
ښه ده د ډېرو نه يوه خبره
چې پښتون نه وي هغه څه پوهېږي
د پښتنو په پښتنه خبره
د چل بلا خبرې خوند نه کوي
مونږه پوهېږو په ساده خبره
اکثر د ډېرو خلقو نه خوښېږي
رښتيا خبره وي تربنه خبره
ملګرو څوک چې لري سپک خويونه
په خُلۀ يې نه راځي درنه خبره
د سوچ او فکر نه چې روستو اوشي
اکمله! غوره وي هغه خبره

شاعران

خدايه که روغ دي که ړاندۀ شاعران
د خرڅ نه بچ کړې لوې وارۀ شاعران
ګرځي مغل کلي په کلي پسې
په بيعه اخلي پښتانه شاعران
چې نن په يو سبا په بل خرڅېږي
خلقو ته هغه ښکاري ښه شاعران
دې بعضو سپکو ادب اوشرموؤ
ځکه نن غلي دي درانۀ شاعران
حېران يم خدايه دا پرې څه چل اوشو
برګې جامې اغوندي سره شاعران
شعرونه څه چې روغ شاعر پټوي
دې موجوده دور کې غله شاعران
ژوندو کې ډېر داسې کسان پېدا شو
چې په پيسو خرڅوي مړۀ شاعران
ډېر په مشکله سره ژوند به کوي
اکمله ستا غوندې سپېره شاعران



راته پښې دومره ستخې مسئلې دي
چې د اوس نه مو بائيللي حوصلې دي
فکر يورم د وختونو انقلاب ته
عجيبه ظالمانه يې فېصلې دي
اخر دې کې به څوک کومه کومه اوري
کېږي هر قسم خبرې بلا خُلې دي
عيش عشرت دے خندا ګانې دي بنګلو کښې
په جونګړه کې ماتم دے زلزلې دي
مجبوري ده په خُلۀ غږ کولے نشم
په دې زړۀ کې مې بلا بلا ګيلې دي
نور قومونه په ارام د مزې ژوند کړي
په پښتون د هرې ډډې نه حملې دي
چې به فخر کو مونږه پرې **اکمله**!
تيتې شوې اوس هغه جګې شملې دي



ستا خبرې

په زړګي مې راورېږي ستا خبرې
رانه چيرې نه هېرېږي ستا خبرې
ښکلیه یاره! چې یې څومره ترخوې ته
عجیبه ده لا خوږېږي ستا خبرې
که روان یم ښپه نیولے شمه هلته
چې په کوم محفل کې کېږي ستا خبرې
په هیڅا هم بدې نه لږي جانانه!
که لنډېږي که اوږدېږي ستا خبرې
که پوره وي کمې نه وي په محفل کښې
خو بیا هم پکښې ځائېږي ستا خبرې
مرغلرې چې اشنا نه دي نو څه دي
ستا د خُلې نه چې دوړېږي ستا خبرې
چې د خلقو د خبرو نه جدا دي
د **اکمل** ځکه خوښېږي ستا خبرې

سپر لیه په خپرونه

مثال دے چرته نشته په دنیا د ښائستونو
سپرلیه په خپرونو وه سپرلیه په خپرونو
د ځان سره دې راوړل تاثرات د جنتونو
سپرلیه په خپرونو وه سپرلیه په خپرونو

(۱)

سپرلیه په راتلو دې وړے ژمے مانه هېر شو
که یو کې وه ګرمي بل کې ساړه به راله ډېر شو
پېغام د خوشحالۍ ته بادشاه د موسمونو
سپرلیه په خپرونو وه سپرلیه په خپرونو

(۲)

دې للمو ته چې ګورم پکښې پولې پولې که پټې دي
قدرت پرې غوړولي څادرونه د شینکي دي
راکاږي ځان ته زړۀ ونه ښکلاګاني د فصلونو
سپرلیه په خپرونو وه سپرلیه په خپرونو

(۳)

شړشم شه زیړ ګلونه دادے نوري علامې دي
په څنګ کې په خندا ورته ولاړې جمامې دي
سیالي کوي د یو بل سره دواړوه په رنګونو
سپرلیه په خپرونو وه سپرلیه په خپرونو

(۴)

شپیسترے که چیلو، کور کمانے که تروپکے دے
قدرت پرې دور راوستو که کندو که شلخے دے
راوړی د کلي جونه تړې پنډونه د ساګونو
سپرلیه په خپرونو وه سپرلیه په خپرونو

(۵)

په خپلو کې یوې بلې ته وائي خورې ګلې
ښکاره شه په ختیانو ګبر چاپېره اورې ګلې
کودې به سره راوړو د غانټولو د ګلونو
سپرلیه په خپرونو وه سپرلیه په خپرونو

(۶)

نن غرونو ته چې ګورم پکښې ونې که وانښه دي
تېغونه پکښې لږي که سور مل دي که سابه دی
غنډلې د سر ګړي کړې هوا په تندکونو
سپرلیه په خېرونو وه سپرلیه په خېرونو

(۷)

تروکي او ږکو پسې چې پېغلې خېژي غر ته
کنډا وته د سپري یاد شو بلو بره سر ته
لنډۍ او نیمکۍ وائي په برغو اوازونو
سپرلیه په خېرونو وه سپرلیه په خېرونو

(۸)

کمرو کې پمنکي په دروکي یې تینډونې
دپاره د خوراک خلق سرونه تړې راتروړي
پیرزو دې په مونږ اوکړه څه د نوو نعمتونو
سپرلیه په خېرونو وه سپرلیه په خېرونو

(۹)

ممانې په دانې شي لايې اوس نيولے بور دے
د رنګه تکې توري په خوراک کې يې سرور دے
اشنا درنه به هيرې شي ميوې د بازارونو
سپرليه په خبرونو وه سپرليه په خبرونو

(۱۰)

بيا ورځې شا ځلمو پياده د پير بابا د تلو دي
په غاښي د بنير وراوړېدل د تماشو دي
ټپه د يا قربان ورسره ټنګ د ستارونو
سپرليه په خبرونو وه سپرليه په خبرونو

(۱۱)

چار بيتې که سندرې که شعرونه د غزل دي
نظمونه که قطعې دي نن سبا د خوند ليکل دي
الهام په لېوني اکمل جاري شو د شعرونو
سپرليه په خبرونو وه سپرليه په خبرونو

خلق

په ځائې به کم کوز پاتې کېږي خلق
اکثر د وخت سره بدلېږي خلق

وينمه ډېر د معصومانو غوندې
دلته په مم باندې غولېږي خلق

د اصل نسل تور او سپين په نامه
د يو د بل سره جنګېږي خلق

بغض حسد او بدنيتۍ اوخوړل
په ضد پښتو باندې قتلېږي خلق

ځان ځاني غواړي جميعت نه مني
د ملګرتيا نه مې بيلېږي خلق

اکمله! بد به وي بدنام به وي تل
په کوم وطن کې چې خرڅېږي خلق

یادونه

خـــــواږۀ خـــــواږۀ واږۀ واږۀ یادونـــــه
یـــو څـــو بـــې غمـــه شـــان اودۀ یادونـــه
څـــو نـــوي نـــوي څـــو زاږۀ یادونـــه
څـــو ترکېـــدلي شـــان وراتـــه یادونـــه
ګلـــې پـــه غـــم کـــې راتـــه ســـتا تـــازه شـــو
هغـــه زاږۀ یادونـــه بیـــا تـــازه شـــو

(۲)

راتـــه د ســـترګو پـــه ککـــو کـــې ښـــکاري
مســـته مســـکا دې پـــه وښـــکو کـــې ښـــکاري
مینـــه مـــې ګـــوره ســـرو لمبـــو کـــې ښـــکاري
زړۀ مـــې ول ول ســـتا پـــه کمســـو کـــې ښـــکاري
رامخـــامخ شـــه ســـترګې بیـــا اوښـــایه
راتـــه رنګونـــه د ښـــکلا اوښـــایه

(۳)

دا پتمـــې پتمـــې د حیـــا خبـــرې
پـــه تـــورو شـــپو کـــې زمـــا ســـتا خبـــرې
هغـــه د خلقـــو نـــه پـــه غـــلا خبـــرې

هغـــــه د نـــــاز او ود ادا خبـــــرې
تـا بـه وئيـل چـې څـوک پـه مـا رانشـي
مـا بـه وې دا موقعـه بـه بيـا رانشـي

(۵)

تـا بـه وې ځـه پـه تـا مئينـه يمـه
مـا بـه وې ټولـه مينـه مينـه يمـه
تـا بـه وې ځـان لکـه فرهـاد غونـدې کړه
زۀ پـه وعـده سـره شـيرينه يمـه
اوس مـې هغـه خبـرې سـتا يـاد ږې
پـه هـر سـاعت راتـه بيـا بيـا يـاد ږې

(۵)

هغـه د خونـد خـوږې خـوږې خبـرې
سـتا پـه وړه ژبـه وړې خبـرې
د اثـر ډکـې د مـزې خبـرې
اکمـل اقـرار کـوي د دې خبـرې
کـه بـې وفـا يـم پـت پـاللے نـه شـم
بيـا دې هـم چـرې هيـرولے نـه شـم

نه يو کېږي

پته يې ولګېده نه يو کېږي
دا چا وئيل چې پښتانۀ يو کېږي

منتشر خوښ دي دا فطرت دے د دوي
بس نه يې خُلۀ او نه يې زړۀ يو کېږي

نفاق مو کړېده قبضه په زړونو
دلته نه لوے او نه وارۀ يو کېږي

منت زاری بلا جرګې پرې اوشوې
والله که څوک په ژوندانه يو کېږي

په داسې حال کې چې يو نه شو سره
تس نس اولس به نور په څه يو کېږي

اکمله! ويخ اوسه غافله نه شې
مونږه ته بيا د وطن غلۀ يو کېږي

ضمیر فروش ته

اے پـــه شـــراب کبـــاب شـــربت مئینـــه
د دنیـــا ګی پـــه عـــیش عشـــرت مئینـــه
اے پـــه ســـینګار او پـــه زینـــت مئینـــه
ضـــمیر فروشـــه پـــه دولـــت مئینـــه
تـــا مـــې عـــزت تـــا مـــې حیـــا لاهـــو کـــړه
تـــا پـــه جمنـــا او پـــه ګنګـــا لاهـــو کـــړه

(۲)

چـــې زړه مـــې غـــواړي هـــغ تـــا اونـــه کـــړه
تـــا د یتـــیم یســـیر پـــروا اونـــه کـــړه
هـــډو پښـــتنه دې د چـــا اونـــه کـــړه
غریـــب پـــه ډکـــه خلـــۀ خنـــدا اونـــه کـــړه
زۀ بـــه کـــړم داســـې او تـــه دا کـــوه
شابســـې خپلـــه مـــدعا کـــوه

(۳)

ستا په رضا باني مې کار اوکه
دا مې په تا باندې اعتبار اوکه
زما د حق نه دې انکار اوکه
په ما دې سمدستې ګزار اوکه
خير دے کوه ګله ياران داسې دي
د قوم بې ننګه مشران داسې دي

(۴)

ستا د ظلمونو څه مثال نشته
د خوار غريب درسره خيال نشته
ګورم په ډاګه دې د بې وال نشته
ډېر بدقسمته يمه مال نشته
دې پښتنو له دې جېلونه جوړ کړه
ځانله دې لوې لوې محلونه جوړ کړه

(۵)

پرون خو ستا پشاني خوار نه وو
روغ په جامو کې دې يو تار نه وو
هډو په پښو کې دې پېزار نه وو
څوک دې خبرو ته وزګار نه وو

نـــن جـــادوګره تـــا اټکـــل اوکـــه
دې پښـــتنو ســـره دې چـــل اوکـــه

(۶)

پـــرون دې يـــو کيلـــه دوتـــر نـــه وۀ
د پـــلار نيکـــۀ دې کجـــے خـــر نـــه وۀ
هـــډو پـــه خلـــۀ کـــې دې اثـــر نـــه وۀ
ستاســـو کوڅـــه کـــې د ټـــيم ور نـــه وۀ
نـــن د عـــوام ســـره دهـــوکې کـــوې تـــه
ســـبل چـــې د چـــين او امريکـــې کـــوې تـــه

(۷)

نـــن چـــې پـــه مـــا بانـــدې خـــولې راځـــي
د خپلـــه ځانـــه مـــې ګيلـــې راځـــي
چـــې مخـــامخ ستاســـو بنګلـــې راځـــي
خـــولې لـــه مـــې ځکـــه اســـويلې راځـــي
وائـــي **اکمـــل** چـــې يـــا بـــه ځـــان ورک کـــړم
يـــا بـــه د ملکـــه ظالمـــان ورک کـــړم

ساقي

راکړه يو داسې پېمانه ساقي
شمه چې په څکو يې ديوانه ساقي

دا خو دې توهي د مېکدې کوې
ځم چې وچې شونډې روزانه ساقي

داسې د سرور جهان کې ورک مې که
سم چې مستان شم مستانه ساقي

سختې د جنون تندې اغستے يم
نن مې کړه مېلمه په مېخانه ساقي

لږ په خپل ائين کې دې بدلون اوکړه
ماسره کړه جوړه يارانه ساقي

بيا چرته د غرونو لېونے نشي
مه کوه **اکمل** ته بهانه ساقي

ګلونه

نن مې په دشته کې د زړۀ ګلونه
په ټوکېدو دي پښتانۀ ګلونه

ګلونه هر څومره که ډېر دي وي به
زمونږه خوښ دي پکښې سره ګلونه

په اننګو دې خولې داسې ښکاري
لکه په پرخه وي لوانده ګلونه

زار شم قربان شم د سپرلي د راتلو
ښکاره شو سمه په هم په غرۀ ګلونه

د وطن پېغلې ترې نه اخلي مزې
خپل خپل وربل له ګوري ښه ګلونه

اکمل به څه کوي په نورو ګلو
خدایه نصیب مو کړې دا شته ګلونه

انقلاب

دغـــه د جبـــر د تـــاريخ پـــاڼې ســـبزل غـــواړی
يـــو انقـــلاب پـــه خپلـــه خـــاوره راوســـتل غـــواړی

(۱)

د پښـــتنو د غيرتـــی ســـيمې نرانـــو ځلمـــو
اے د خپبـــر د دنګـــو غرونـــو بـــاتورانو ځلمـــو
په پت پښتو په ننګ غيرت مئينو ګرانو ځلمو
پـــه خپـــل وطـــن د ســـره تېـــرو عاشـــقانو ځلمـــو
لـــوړ محلونـــه د زر دارو جړقـــول غـــواړی
يـــو انقـــلاب پـــه خپلـــه خـــاوره راوســـتل غـــواړی

(۲)

پـه خپـل وطـن کـې اخيـر ولـې غلامـن يـو مـونږه
ولـې بدحالـه در پـه در سـيرې ګرېـوان يـو مـونږه
څـو بـه د غيـرو اشـاره بانـدې روان يـو مـونږه
ښـه د هـر چـا نـه پښـتانۀ مسـلمانان يـو مـونږه
هغـه د ننـګ تـورې پـه لاسـو کـې نيـول غـواړي
يـو انقـلاب پـه خپلـه خـاوره راوسـتل غـواړي

(۳)

دا د مـزدور او د کسـان او د دهقـان وطـن دے
دا د ننګيـالو پښـتنو د زړۀ ارمـان وطـن دے
دا زمـونږ روح زمـونږه تـن زمـونږه ځـان وطـن دے
د پـلا نيکـۀ نـه راتـه پـاتې ګلسـتان وطـن دے
دا خپلـې وينـې بـه پـرې خامخـا شـيندل غـواړي
يـو انقـلاب پـه خپلـه خـاوره راوسـتل غـواړي

(۴)

چې پښـتانۀ يـو نـو بيـا داسې بې پښـتو ولې يـو
ساه راکښې شته اخر بې ساه لکه د مړو ولې يـو
داسې بدحالـه ناسـت پـه در کـې د پـردو ولـې يـو
مـونږه خاموشـه د اغيـار پـه نـاکړدو ولـې يـو
لـوې او واړه د پښـتونخوا راپـارول غـواړي
يـو انقـلاب پـه خپلـه خـاوره راوسـتل غـواړي

غزل

خپل به مې نشي چې پردی دی خلق
دا څه بې خونده بې مزې دي خلق
ځه پکښې چاسره ملګرے شمه
قائیل د هرې نظریې دي خلق
چرته هم ځائي د امن نه وینمه
د هر طرفه راپسې دي خلق
داسې په ویخه باندې خوب وړیدي
په مړو حساب دي که ژوندي دي خلق
اکمله! چرته څوک خوشحاله نشته
هر ځائې په زړۀ زرې زرې دي خلق

زړۀ مې بې واره په درزا شي چې دې اوینمه
هسې اشنا وار مې خطا شي چې دې اوینمه
ډېر له حیا نه مخامخ درته کتلے نشم
په ما شیبره تبه راشي چې دې اوینمه
په زړۀ کې وایمه چې ښه به شمه ستا په لیدو
جنون مې یو په دوه سبوا شي چې دې اوینمه

داسې حېران ستا د لیدلو کېفیت ته یمه
ټوله دنیا رانه پناه شي چې دې اوینمه
بیا زه **اکمله** هډو د ځان د حاله نه خبرېږم
سمې ساه ګاني مې بې ساه شي چې دې اوینمه



دا څه بې مقصده زندګي کوو
مونږ چې د بندیانو بندګي کوو
څومره چې خولې له ځانه اوباسو
دومره د زردارو ابادي کوو
خدایه وږې خبټې مو مړې نه شوې
شپه او ورځ لګیا یو مزدوري کوو
روغو خلقو هغه لېونې یو مونږ
تل چې په خپل غم باندې ښادي کوو
طمعه د وفا لرو د ښکلو نه
دا سره د پوهې خطائي کوو
څوک دي چې به داد راکړي **اکمله** نن
څه بې قدره وخت کې شاعري کوو

پښتانۀ

نن سبا هر چېرته چې دي پښتانۀ
لړمانان دي يو بل خوري پښتانۀ

د خدائې د لارې خبر پوهه خلق
لګيا دي هسې جنګوي پښتانۀ

د ضد نه ناوړي پښتو دې ته وائي
خپلو کې يو بل قتلوي پښتانۀ

د بل د تخت د رسېدو په خاطر
وينم د دار تختې له ځي پښتانۀ

نن وطن وال د بل وطن په دلال
پښتانۀ لرې خرڅوي پښتانۀ

دوړ او پړپته يې هم نه لرې
اکمله! هس بې هسه مري پښتانۀ



ستا خبرې که خوږې دي که تربنې دي
مجبوري مې ده زما دپاره ښې دي
په سر سترګو مې قبولې دي جانانه
ستا د خلې که دعاګانې که خیرې دي
چې تیږږي په ما ستا په انتظار کښې
عجیبه مې د ژوند دغه ورځې شپې دي
یو زۀ نه یم چې دې مینې لښونے کړم
ډبرو تاپسې لنګ کړې موسلې دي
دا په مینه کې څه عار نه دے مئین ته
تږروم به یې تودې دي که سړې دي
که یې هر بتکے بتکے رقیب رقیب شي
په ما ګراني ستا د چم لارې کوڅې دي
د زړۀ سترګې یې بینا دي هر څه وینې
د مئینو که د سر سترګې ړندې دي
په معنیٰ یې هر څوک پوهه نه دي **اکمله**!
عاشقیِ کې خلقو موندې مرتبې دي



ځان له ناست يم څوک مې نشته د خبرو
رانه زړونه ماړه شوي د ملګرو

غريبي ژوندے سړے په مړو حساب کړي
نن خبرې يا د زور دي يا د زرو

شا په شا زمونږ سرونه تړي داو ته
اوړېدلي يو په داسې جوار ګرو

د همه انسانيت نه يې نفرت دے
دغه حال دے د دنيا د تنګ نظرو

د وطن اختيار په لاس کې د قارون دے
هيڅ تپوس پښتنه نشته د نهرو

سپرلے نه اوس پکښې وينې وطن ستايو
خوند مو نشته دے **اکمله** د سندرو

ژوند

ژوندون څه دے خو بلا سړې تودې دي
حادثې دي، حادثې دي، حادثې دي
تېرول دلته د ژوند داسې مشکل شو
لکه زول طوفان کې وړل بلې ډيوې دي
بشري قصابي کېږي هر طرف ته
په لاسونو کې تبرونه دي چړي دي
هر څوک سوچ فکر اخيستي ګوتې شمېري
بلاګانې د نرخونو ورپسې دي
ډېر غربت زېلي وږي تږي ګرځي
چې دولت لري د هغه چا مزې دي
پښتانۀ هم قصيدې د غيرو وائي
هيرې شوې تږې د پلار نيکۀ قيصې دي
د ظالم د ويرې غږ کولے نه شو
په دې خلو مو د لحد تبې پرتې دي
لوې واړه دې انتظار کوي قيامت ته
اے **اکمله**! دا يې ننبې ننبانې دي

پښتو او پښتون

رابېدار مې شو په زړۀ کښې
بيا خوارۀ خوارۀ دردونه
راته مخکښې مخکښې کېږي
خپل نيمګړي ارمانونه
په تنکو ګلونو لږي
د خزان تاوده بادونه
دې حالاتو کې به څنګه
د چا زړۀ شي په قلاره
چې ويزار وي زوئې د پلاره
رور د روره يار د يار ه

(۲)

خپل وطن راپورې اور شه
راته کور مقتل خانه ده
خپل ناموس راته پېغور شه
خپله خاوره بې ګانه ده
يو سرکش غوندې ظالم ته
زمونږ زړونه نښانه ده

فکـــر وړے يـــم حيـــران يـــم
خدايـه دې د ســازش جنـګ تـه
خلقـــــو اور دے لګـــــولے
د پښـتون نـاموس او ننـګ تـه

(۳)

دا مجـرم غونـدې جـرات مـې
چـا چيـرلے پـه ســلګو دے
دا زخمـي زخمـي احسـاس مـې
يـــو غيـــرت د پښـــتنو دے
هـر يـو څـاڅکے مـې د وينـې
دوبـــاره پـــه جوشـــيدو دے
پـــه دې دروکـــي ملګـــرو
د پښـــتو ټکـــے پيغـــور شـــه
چـې د اور پـه بهانـه راغلـل
نـــن د هغـــه خلقـــو کـــور شـــه

(۴)

يـــم پښـــتون پښـــتو دې وايـــم
د پښـــتو نـــه دې جـــدا يـــم
نـــن چـــې څـــه راســـره کيـــږي

دا عمـــل دے څـــه ســـزا يـــم
مـــا پښـــتو ســـره پښـــتو کـــړه
پښـــتو ښـــه ده زهٔ خطـــا يـــم
پـــه پښـــتو مـــې دې قســـم وي
پـــه پښـــتو ســـرور کومـــه
پـــه پښـــتو کـــې زهٔ پېـــدا يـــم
پـــه پښـــتو کـــې بـــه زهٔ مرمـــه

(۵)

پښـــــتنو ملګـــــرو واورئ
پـــه پښـــتو مـــې دا اعـــلان دے
يـم پښـتون پښـتو مـې ژونـد دے
پـــه پښـــتو کـــې مـــې ايمـــان دے
ســـينه ډال مـــې ده دښـــمن تـــه
پـــه پښـــتو مـــې دا بيـــان دے
پښـــتو وائـــي پښـــتو زده کـــه
پښـتو اوکـه چـې دې خپـل کـړم
د پښـــــتون بچيـــــه هلـــــه
رانـزدې شـه چـې دې ښـکل کـړم

غزل

کېږي به ملګرو غريبي زمونږ د عمره ده
برخه ازلي بدنصيبي زمونږ د عمره ده

اے د وخت نادارو په بادارو ملا او نه ټړئ
دوي سره پتنه او دښمني زمونږ د عمره ده

څۀ بدبخته قام يو رهزنان مو رهبري کوي
دا د غلامانو غلامي زمونږ د عمره ده

ګرانه ته به مانه، زۀ به تانه ګيله نه کوم
دغه په يو بل بدګماني زمونږ د عمره ده

بيا هم هيڅ د خپلو د پردو د توره پاک نه شو
څو په دې وطن که قرباني زمونږ د عمره ده

ۀر خلق به مونږه نه خفه لږ به خوشحاله وي
خپر دې وي **اکمله**! شاعري زمونږ عمره ده



په خپل وطن کې د خپل کور او د خپل کلي خلق
ما بې قصوره بې ګناه په کانړو ولي خلق
د څه وئیلو نه اوس نه وئیل به ډېر غوره وي
دا چې په نه خبره هم راسره ننبلي خلق
عجیبه چل دے په کورونو اوس قابض شو رانه
هغه د اور په بهانه باندې راغلي خلق
اوس په رهبر باندې ګمان هم د رهزن کومه
متل دے پرو نه وېرېږي مار خوړلي خلق
ځان ځان له خوښ دي پرېشانه جمیعت نه مني
دا د یو بل نه مړه خوا او شوکېدلي خلق
نشي ویړیا ازادي غواړي قرباني د وینې
د سره تېرو ورله پکار دي ملاتړلي خلق
ملګرو نن خو د پښتو پوښتنې هغوي ماتې کړې
څوک چې یادېږي د پښتو په نوم ښاغلي خلق
اکمله! قدر چې د چا په ژوندانه اونه شي
څه پرې که پس د مرګه ژاړي یې په څلي خلق



چغه

چې پرې د حق اواز کولے نشې
شوندې مېدان کې پرانستلے نشې
ظالم د حق په تېغ وهلے نشې
چې پرې رښتیا رښتیا وئیلے نشې
زهٔ داسې خلې ته خلهٔ وئیلے نه شم
د کمر سوړه د دې خلې نه ښه ده
مېدان کې چغه د وسلې نه ښه ده

(۲)

ظلم زیاتے چې په مزدور کوي
غریب ته خیال لکه تربور کوي
په نورو خلقو څه پروا نه لري
چې شمله اوتړي غرور کوي
بیا د هغې شملې نه کومه فائده
ماته کتې د دې شملې نه ښه ده
مېدان کې چغه د وسلې نه ښه ده

(۳)

چې وعده اوکړي بيا يې پوره نه کړي
مېړانه خلقو ته ښکاره نه کړي
عبس دي چغې غريبان زنده باد
ځان چې ملګرے ورسره نه کړي
هسې دهوکې دې قام له نه ورکوي
نه فېصله دې فېصلې نه ښه ده
مېدان کې چغه د وسلې نه ښه ده

(۴)

مېدان ته اوزه پښتو دغه ده
موقعه دښمن ته د کتو دغه ده
که سر دې لاړ شي خو چې روستو نشې
ورځ د ظالم د پرېوتو دغه ده
ګرېوان تړې اوشلوه چې بيا نه کوي
په مخ سپېړه د حملې نه ښه ده
مېدان کې چغه د وسلې نه ښه ده

خط ليکمه

په دعاګانو سلامونو يار ته خط ليکمه
ګورمه توري د لفظونو يار ته خط ليکمه

د سترګو تور د زړۀ ټکور ښکلے جانان د مينې
څه په خوږو خوږو نومونو يار ته خط ليکمه

نه په زړۀ تور يم نه په خلۀ توري خبرې کوم
زۀ تل په سپينو کاغذونو يار ته خط ليکمه

پيسې که نشته د اخلاص پنګه خو شته راسره
په قلم شوو قلمونو يار ته خط ليکمه

کله که هم چرته رقيب د ضد خبره اوکړه
زۀ به د وينو په رنګونو يار ته خط ليکمه

په غوږ يې اوري او د زړۀ تل ته يې هم کوزوي
اکمله! ځکه په شعرونو يار ته خط ليکمه

د پاڅېدلو نه يم سم راغورزېدلے يمه
په سپېرو کانړو ستا د چم راغورزېدلے يمه

مالـه په ښه سړي اوبـۀ دم کـه ساختونه اوکـه
مرګي حال پروت يم جوتې خورم راغورزېدلے يمه

داسې په چغو د زخمونو د دردونو نه يم
لکه دړوکي د تورتم راغورزېدلے يمه

راشه دلاسه مې لږ اونيسه او پا مې سوه
زما وجود کې نشته دم راغورزېدلے يمه

نور مې په دې کوڅو کې څه کول او کار مې څه وۀ
دا ستا ديدن لره راتلم راغورزېدلے يمه

هيڅ مې دردونه د زخمونو په دارو ښه نه شو
ګده پرې د سپيني خلې مرهم راغورزېدلے يمه

ستا په خمار نشو نشو سترګو غزل ليکمه
نن دې جانانه په دې مړو سترګو غزل ليکمه

چې يې باڼه لکه د غشو په زړګي خښېږي
هر څه چې کېږي په هغو سترګو غزل ليکمه

زۀ که تري اور اخلمه زر ځلمه دې واخلمه خو
په دغه سرو بلو لمبو سترګو غزل ليکمه

تش په کتو چې ورته هم بې هوشه کېږي خلق
په هغو ډکو پېمانو سترګو غزل ليکمه

خدائې دې په ژوند کې چرته داسې حالات نه راولي
چې بې لتا به پردو سترګو غزل ليکمه

بلا ښائسته د چا مغلو سترګې نه خوښوم
اکمله! زۀ په پښتنو سترګو غزل ليکمه



اشنا غلط مطلب زما د لېوتتوبه اخلي
داسې به څوک وي چې په سر به د شر لوبه اخلي
خپلو کې نه یو کېږي ټول مشتي ګرېوان دي سره
خلق فائده د پښتنو د ساده توبه اخلي
په اوږدلو ئې چا اوژل څوک اوخندېدل
دنیا به کومه معنیٰ بیا زما د خوبه اخلي
د دې بې پته پښتنو پښتو مې هم اولیده
والله که ساده موجوده مغل درعوبه اخلي
اکمله! غواړه د دوران د انقلابه امان
مهې به ډېر مشکلا سا بیا په وچو به اخلي



چاته به څه وایم چې چا راباندې کوډې اوکړې
چې پرې مئین شومه اشنا راباندې کوډې اوکړې
خلقو هر څو که راته وې خو ما به نه منله
پوهه شوم اوس چې یې رښتیا راباندې کوډې اوکړې
که یې په خپل سمي وژلے وے خفه به نه وم
یا د اغیارو په وېنا راباندې کوډې اوکړې

ملګرو زۀ يې په خوږو خوږو خبرو يوړم څه په اعتبار کې يې په غلا راباندې کوډې اوکړې چې مې پنځه وخته **اکمله**! پسې نيت تړلو هغه د خپل جمات ملا راباندې کوډې اوکړې



غريبو پام کوئ غټان راسره خبر نه کوي چې وس يې رسي په هيڅ شان راسره خبر نه کوي اخلي زمونږ د ساده توبه ناجائزه فائده دا چلته پورته هوښياران راسره خبر نه کوي لکه لېوان زمونږه وينو څښو ته ترې ناست دي دغه د امن قاتلان راسره خبر نه کوي هغه شين سترګي انګرېزان خو ښه ده نشته دلته اوس يې سور سترګي شاګردان راسره خبر نه کوي **اکمله**! خپل کلي کې هم تېروو ژوند په وېره د نورو کلو دلالان راسره خبر نه کوی



ښکلي

اوسني ښکلي ډوګ بوګيان دي د چا نه خپلېږي
صرف د خپل غرض ياران دي د چا نه خپلېږي

د چا ژړا آه او فرياد پرې څه اثر نه کوي
د سختو زړونو مالکان دي د چا نه خپلېږي

په زړۀ کې پټ به دې بندونه د وژلو ترې
په سپينه خلۀ به درته خاندي دچا نه خپلېږي

څوک دې پرې هسې د خپله سر وماله نه تېرېږي
ملګرو ګران دي بلا ګران دي د چا نه خپلېږي

چرته فائده به په خپل ژوند کې ترې نه اونه مومې
مئينښدل پرې د تاوان دي د چا نه خپلېږي

منم چې يو نيم وفادار به چرته هم وي پکښې
ګڼې اکثر داسې کسان دي د چا نه خپلېږي

اکمله پام کوه په غېږه کې يې مه لوبوه
په زړۀ به ټک درکړي ماران دي د چا نه خپلېږي

پښتونخوا

دا تپوس کوم چې اخر څه ملک به تباه شي
کوم قیامت به راشي
نوم د دې وطن که د سرحد نه پښتونخوا شي

(۱)

دا تپوس کومه د دې بعضو تنګ نظرو نه
خاص د خپل غرض دپاره مونږ سره ملګرو نه
څاڅي چې یې زهر د خورږو خورږو خبرو نه
مونږ پسې چې توري یې راویستې دي د زغرو نه
غم مه کوئ لاس نښپه به یې بیا چرته خطا شی
کوم قیامت به راشي
نوم د دې وطن که د سرحد نه پښتونخوا شی

(۲)

سندھ ته ځکه سیندھ وائي چې دغلته سیندھیان اوسي
ګوره په صوبه بلوچستان کې بلوچستان اوسي
داسې که خیال اوکړې په پنجاب کې پنجابیان اوسي
دلته کې نښاغلي پښتانۀ بهادران اوسي

نـور پکښـې بيـا څـه دي پښـتونخوا دې خامخـا شـي
کـــــــوم قيامـــــــت بـــــــه راشـــــــي
نـوم د دې وطـن کـه د سـرحد نـه پښـتونخوا شـي

(۳)

زهٔ مـې خپلـو رونـو پښـتنو تـه فکـر وړے يـم
هسـې مـې خـلاف دي لېونـو تـه فکـر وړے يـم
زار د پخوانـو شـم اوسـنو تـه فکـر وړے يـم
تـش پـه نـوم سـړي دي ارتينـو تـه فکـر وړے يـم
ټـول کـه اتفـاق اوکـړي پـه دې باندې رضـا شـي
کـــــــوم قيامـــــــت بـــــــه راشـــــــي
نـوم د دې وطـن کـه د سـرحد نـه پښـتونخوا شـي

(۴)

يـه کـم عقلـه خلقـه کـه سـوچ اوکړي سـرحد څـه تـه وائـي
کرکـه نفـرت څـه تـه وائـي بغـض حسـد څـه تـه وائـي
ولـې مـو دا جهـل اختيـار کړېـدے ضـد څـه تـه وائـي
دې تـه چـې بـد نـه وائـي نـو نـور بـه لابـد څـه تـه وائـي
نـوم ورلـه ضـرور ګـدي چـې معصـوم کلـه پېـدا شـي
کـــــــوم قيامـــــــت بـــــــه راشـــــــي
نـوم د دې وطـن کـه د سـرحد نـه پښـتونخوا شـي

وطنه

که څوک اورنګ د زماني وه که فيرنګ وطنه
کړېدے مونږ ورسره ستا دپاره جنګ وطنه

هيڅ يو مېدان کې د دښمن نه روستو شوي نه يو
شته په تاريخ کې مو قيصې د نام وو ننګ وطنه

مونږه پرې دغسې ورغلي يو خالي لاسونه
که د دښمن سره وه توپ او که تفنګ وطنه

د چارسدې بابړه اوپښته ټکر اوپښته
ستا ننګيالو د مرګه نه دے کړے څنګ وطنه

د پېښور قصه خوانۍ کې قيصې اوس هم کېږي
د شهيدانو د غيرت په وينو رنګ وطنه

ظالم واکدار که ځان يزيد او په شمر بللے
پښتون پرې هم لکه حسېن کړے غورزنګ وطنه



دلته ماړه لږي نهر خلق په کانړو ولي
خوښ دي د امن نه په شر خلق په کانړو ولي
د لېونتوبه اثر زيات دے د دولت د نشې
قارون زادګان وينم اکثر خلق په کانړو ولي
د کراچۍ او هندوستان مهاجر يو بل ښکلوي
دلته يو بل د لر او بر خلق په کانړو ولي
نور په دنيا کې به څوک داسې بدقسمته نه وي
مونږ په خپل کور کې د بهر خلق په کانړو ولي
حېوانيت چې ورته نه وايو نو څه به ووايو
د شپې سپورۍ د ورځې نمر خلق په کانړو ولي
ملګرو ګرانه ده چې جوړ د لېونتوبه شمه
کله مې زړۀ کله ځيګر خلق په کانړو ولي
چا چې ټول ژوند وي وفق کړے د پښتو دپاره
اکمله! هغه سخنور خلق په کانړو ولي



حق او باطل

هـر خـوا چـې ګورمـه دردونـه مصـيبت جـوړ دے
سـينې د بغـض کينـې ډکـې لـوې افـت جـوړ دے
پکښـې جګـړې جنـګ جـدل فرعونيـت جـوړ دے
نـه خوشـحالي شـته نـه ارام شـته قيامـت جـوړ دے
نفسـی نفسـی ده پـلار او زوې جـدا جـدا وينمـه
د جهـنم لمبـې سـرګندې پـه دنيـا وينمـه

(۲)

دا د ظلمونـو سـتونو نـه تيـاره دنيـا
دا ظالمـان پيـدا کـونکي حملـداره دنيـا
هـم دروغژنـه، دهوکـه بـازه او ناکـاره دنيـا
دا بـدګفتاره، بـد اقـراره، بـد کـرداره دنيـا
د حـق پـه خونـه د باطـل دپـاره اور لګـوي
لابـې قصـوره د غريـب لمبـې پـه کـور لګـوي

(۳)

پـه ګرمـه ونـه د مـزدور کارخانـه دار کـړي فخـر
ډاکټـر د وخـت پـه تکليفونـو د بيمـار کـړي فخـر

څوک به بنګلو څوک په کرسو د اقتدار کړي فخر
عیش پرستي تن پرستي باندې زردار کړي فخر
نن د حاکم په مخکښې چغه د امداد ګناه ده
مقابله کې د ظالم اه و فریاد ګناه ده

(۴)

د حق په مخکښې د باطل ظالم لښکر ګرځي
حق د منصف د عدالت نه لاس په سر ګرځي
لاد باطل د ویرې هغسې اوتر ګرځي
غریب د لومې نه بې کوره دے نهر ګرځي
د ظالمانو دا رڼدۀ دنیا تباه غواړم
چې مساوات قائموي داسې دنیا غواړم

(۵)

یو خوا چې ګورمه مظلوم سیرې ګرېوان پروت دے
بل خوا شیطان دے په جامه کې د انسان پروت دے
یو خوا زردار د چا د غوښو په ارمان پروت دے
بل خوا بې تابه خوار غریب په ویر د ځان پروت دے
یو الهیٰ د دې غریب په تن کې ساه راوله
بل په فرعون پسې د وخت نوے موسیٰ راوله

(۲)

د غريب مينه کې بې تابه ناقرار خوښ يم
هر څه چې کېږي ملګرتيا کې د نادار خوښ يم
لکه منصوردان الحق په دې ګفتار خوښ يم
که په رښتيا و سنګسار ږمه سنګسار خوښ يم
د حق دپاره مې کړه ويخه ګنهګاره ژبه
په سر د دار مې خبژوي خپله ناکاره ژبه

ځه يو دوه نه دي ما بلا خلق په کانو ولي
ستا په کوځه کې مې اشنا خلق په کانو ولي
د نورو خلق نه ملګرو ګيله څنګه اوکړم
چې مې د خپلې پښتونخوا خلق په کانو ولي
څوک چې مجرم وي که په کانو لږي باک يې نشته
ما بې قصوره بې ګناه خلق په کانو ولي
که نور ښه نشې کوې راسه تماشا خو اوکړې
راجمعه شوې دې ما بيا خلق په کانو ولي
اکمله! هر څوک چې د مينې لېونې يادږي
دغسې خلق خامخا خلق په کانو ولي

ډله

دا چې د چا وي نن يوه او سبا بله ډله
پښتونۀ پام کوه ساته د داسې غله ډله

ډله منم چې د چا نه وي خو ايمان يې نه وي
شرط پکښې دادے چې يې ډله وي هم ډله ډله

زۀ چې نن وينم د خدائي خدمت ګارانو بچي
په تلو راتلو باندې لا اوشرموله ډله

اوسنو خلقو په پيسو خرڅه کړه اوئې بائيلله
پخوانو خلقو به په سرو وينو ګټله ډله

په پښتنو کې چې پښتو وه او بې پته نه وو
ټولو قامونو د دنيا به يې منله ډله

څوک چې يوه ډله پسې دي څوک په بله پسې
د پښتنو نه ورکه شوې هغه خپله ډله

پښتنو

د خپلې ګرانې پښتونخوا خورو ورو پښتنو
راځئ چې یو شو سره ټولو لویو وړو پښتنو

چې ټول په خپلو کې جرګې او مرکې جوړې کړو
د یوه بله مړه خوا به یو تر څو پښتنو

نورو قامونو ځان له خپل خپل مشران اوټاکل
مونږه کوو لا خوشامندې د پردو پښتنو

روغ راته څوک نه وائي خود به لېونې ګڼي مونږ
چې د خپل کور څوکیداري کوو په غلو پښتنو

چې بل یې خوري تړې نه تپوس هم د خپل حق نه کوي
نوم به د بدو همېشه وي د هغو پښتنو



هغسې ښه شعرونه څنګ اوايم
خوارۀ خوارۀ شعرونه څنګ اوايم

د سپکو خلقو په دې سپک محفل کښې
درانۀ درانۀ شعرونه څنګ اوايم

د مرګ په خوب باندې اودۀ خلقو ته
د ژوندانۀ شعرونه څنګ اوايم

چې رانه ګېر چاپېر مغل پراته دي
زه پښتانۀ شعرونه څنګ اوايم

په دې سړه سړه فضا کې اخير
تاوده تاوده شعرونه څنګ اوايم

چې هره ورځې بدلوي رنګونه
هغوي ته سره شعرونه څنګ اوايم

اکمله! خلقو په بارودو اوسول
نور په خپل غرۀ شعرونه څنګ اوايم



ربشتيا

ما وې چې بيا به په کاغذ باندې قلم کې نه ږدم
د چا خانانو په بنګلو کې به قدم کې نه ږدم
کټ به په خوا کې د دې غټو په قسم کې نه ږدم
خلۀ کې به زۀ د پښتني شاعرۍ بم کې نه ږدم
هغه توبه مې ماتومه ابتدا کومه
چې هر څه کېږي خو توکل په يو الله کومه

(۲)

بيا چې هم اورم د جابر او د مجبور خبرې
د چا شاهانو قصيدې او د مزدور خبرې
د وږو تږو انسانانو د ضرر خبرې
اخر مجبور شومه يو څو مات ګوډ شعرونه ليکم
د وچو شونډو غم زپلو فريادونه ليکم

(۳)

خبر دے دښمن دے د هر چا شمه ربښتيا به وايم
هر څه چې کېږي ولې ښه صفا صفا به وايم


قیصـــه ده پټـــې فنـــا نـــه ده بـــرملا بـــه وایـــم
چـــې څـــه مـــې اوې د محفـــل ملګـــرو دا بـــه وایـــم
یـو خـوا وطـن کـې پـه بنګلـو کـې تنـګ ټکـور ولـې دے
بـــل خـــوا جـــونګړو کـــې ژړا فریـــاد او شـــور ولـــې دے

(۴)

زۀ پـه خپـل کـور کـې د اوبـو ډوډۍ حـق دار یـم کنـه
مانـــه چـــا اونـــه کـــړه پښـــتنه چـــې نهـــار یـــم کنـــه
د دوزخـــي ګډې دلاســـه ګنهګـــار یـــم کنـــه
د وطـــن داســـې مشـــرانو تـــه بـــه څـــه اوایـــم
دې پښـــتنو تـــه بـــه پـــه خپلـــه ژبـــه مـــړه اوایـــم

(۵)

زۀ هـــم شـــاعر یمـــه د حـــق تپـــوس کـــولے شـــمه
ســـترګې لرمـــه دغـــه هـــر څـــه پـــرې لیـــدلے شـــمه
غـــل او ډاکـــو، قاتـــل ســـمګلر ټـــول پېژنـــدلے شـــمه
د دو د خپټـــو نـــه دا هـــر څـــه راوبســـتلے شـــمه
ښـــه بـــه وي دا چـــې کونـــډو رنـــډو لـــه حســـاب ورکـــړي
یـــا لېـــوني **اکمـــل** لـــه ســـم دســـتي جـــواب ورکـــړي



زما ساده ملګري څه هوښيياران غله اوخاته
هر چا اوس وپېژندل ښه د دوران غله اوخاته

ګوره د ډېرو وسائلو د هتيار سره
د ملک سپاهيان مې هم د جنګ په مېدان غله اوخاته

اوائې نور به د انصاف اميد د چا نه کوو
په قام مين هغه د سر مشران غله اوخاته

غوره به دا وي چې ځانونه ترې رااونغاړو نور
محفل ته شان د ورتلو نشته ياران غله اوخاته

نور اوسېدل مو پکښې اوس د خطرې سره دي
زما د کلي د مکان مالکان غله اوخاته

بتان په ترخ کې او سړی په پټکي پټه ساتي
تش په نامه مسلمانان د ايمان غله اوخاته

د خدايه خېر غواړه **اکمله**! ډېر نازک دي حالات
ډېر نومورې د پښتو شاعران غله اوخاته





څه خو مړ ښه وم چې ژوند ے شوم په ځان نه پوهېږم
د معصومتوب نه چې ځلمے شوم په ځان نه پوهېږم

ډېر ارماني يې د دين وم چې تړې لرې ومه
څنګ ته د يار چې ورنزدې شوم په ځان نه پوهېږم


پردي خو هسې هم پردي وي خپلېدلے نشي
زۀ خو د خپلو نه پردے شوم په ځان نه پوهېږم

خلق که دين نه وي دنيا خو خامخا اوګټي
زۀ نه د هغې نه د دې شوم په ځان نه پوهېږم

لکه د شل اوس د سيالي منډه وهلے نه شم
پاتې ملګرو نه وروستے شوم په ځان نه پوهېږم

چې ما **اکمل** په لېونو پورې خندا کوله
خلقه په خپله لېونے شوم په ځان نه پوهېږم





د اوسنۍ زمانې ښکلي د چا نه خپلېږي
مونږ څو څو ځله ازمائيلي د چا نه خپلېږي

خوږو ملګرو قسما قسم تجربې پرې اوشوې
په خپل ښائست غره ښاغلي د چا نه خپلېږي

د عاشقانو قرباني د چا نه پټې نه دي
که په ځان جوړ کړې ورته څلي د چا نه خپلېږي

لکه د باز چې مې ساتلي وو د زړۀ په غوښو
اوس مې په کانو باندې ولي د چا نه خپلېږي

شته يې قيصې په کتابونو کې که اودې لوستې
ډېرو پرې مال و سر بائيللي د چا نه خپلېږي

ساده **اکمله**! چې د سر بازي پرې اونه تړې
دا هوښيارانو زمونږ د کلي د چا نه خپلېږي



انصاف

ګيلـه د ګلـه کـه د بلبـل کـه د خزانـه وکـړم
پښـتنې وينـې د انصـاف اميـد د چـا نـه وکـړم

زۀ د خپـل سـر و مالـه تيـر يـم د وطـن پـه مينـه
بـاران د اوښـکو وروم د دې چمـن پـه مينـه
نشـته تميـز د ښـه او بـد کـه څـه مېړانـه وکـړم
پښـتنې وينـې د انصـاف اميـد د چـا نـه وکـړم

يـو خـوا پـه وينـو مـې د دې چمـن ګـلان سـره کـړل
بل خوا محل کې مې د چا ښکلي لبـان سره کړل
نن چې پرې ځانګې لـړ تپـوس بـه لـه پېزوانـه وکـړم
پښـتنې وينـې د انصـاف اميـد دچـا نـه وکـړم

جنـګ کـربلا چـې د اسـلام سـينه کـې داغ ولـړو
چـا يزيـد انو پـه هغـې مېـدان کـې بـاغ ولـړو
فاطمې څه شوي د حسېن تپوس چې ستا نه وکړم
پښـتنې وينـې د انصـاف اميـد د چـا نـه وکـړم

د دې چمـــن هغــه ګــلان يــې پــه تــوهين تــالاکــړه
مــونږ چې مالیــار مالیــار ګڼــه هغــه ګلچــين تــالاکــړه
څــو اســويلي بــه ســوي ســوي د ارمــان وکــړم
پښــتنې وينــې د انصــاف اميــد د چــا نــه وکــړم

دې د ظلمونــو انتهــا تــه بــه څــوک څــه وائــي
دې زور زيــاتي او نــاروا تــه بــه څــوک څــه وائــي
اکملــه! ګرانــه ده چــې ګټــه بــې تاوانــه وکــړم
پښــتنې وينــې د انصــاف اميــد د چــا نــه وکــړم

ځه پريښانه ورځې شپې د ژوندانه دي زما
خوشحالي نشته دے غمونه مېلمان دي زما
ځان ته پښتون وائي او بيا هم په پښتو شرمېږي
په پښتونخوا کې بعضې داسې پښتانۀ دي زما
څوک چې په زړۀ کې ځايه ومه په چا ورک مين يم
پراته د هغه خلقو لاس په ګريوانه دي زما
د خوږو زړونو مسيحا هله رااورسېږه
خښې چړې په لړمانه د بېلتانه دي زما
سپرلے به وي ملګرو زۀ تړې نه منکر نه يم
وائي **اکمل** د خوشحالۍ ورځې لا نه دي زما

د پښتونخوا نوم پرې لیکمه

صوبه سرحد د خپل وطنه ورانومه
د پښتونخوا نوم پرې لیکمه
د پښتنو د زړۀ ارمان پوره کومه
د پښتونخوا نوم پرې لیکمه

(۱)

څه نوې نه ده دا زړۀ نامه ده
پښتونخوا ښکلې او خوږه نامه ده
زمونږه خوښه ده درنه نامه ده
دغه انګړېز ایښودے نوم کله منمه
د پښتونخوا نوم پرې لیکمه

(۲)

بلوچستان د بلوچانو وطن
دغسې سندھ دے د سندھیانو وطن
پنجاب هم دے د پنجابیانو وطن
خو زۀ پښتون د وطن نوم نه پېژنمه
د پښتونخوا نوم پرې لیکمه

(۳)

خپل ننګ غیرت پښتو حیا به ګتم
د سر په بیعه پښتونخوا به ګتم
چې ما یې نوم واغستو دا به ګتم
ضدي پښتون یم په ډیران ارټ بیلمه
د پښتونخوا نوم پرې لیکمه

(۴)

ګران احمد شاه بابا پښتون ښاغلي
سوونه کاله مخکښې دا وئیلي
د پښتونخوا د غرو سرونه ښکلي
چې را په یاد شي د ډیلي تخت هبرومه
د پښتونخوا نوم پرې لیکمه

(۵)

د پښتنو پېژند ګلو پښتونخوا
زمونږ د لویو د وړو پښتونخوا
ده یوه سیمه د زمرو پښتونخوا
ملګرو زهٔ یې په جنت باندې بلمه
د پښتونخوا نوم پرې لیکمه

(۶)

د وخت حاکم ته دا خبره کوم
په ډاډه زړۀ يې زړوره کوم
مطالبه ترېنه په نره کوم
پرې قرارداد د پښتونخوا منظورومه
د پښتونخوا نوم پرې ليکمه

(۷)

دا د خوشحال او د رحمان وطن دے
دا د ايمل او دريا خان وطن دے
د باچا خان فخر افغان وطن دے
اکمله! زۀ به يې په سرو وينو پالمه
د پښتونخوا نوم پرې ليکمه

غږ

خپلـــه د خپـــل ځـــان حفاظـــت دے پکـــار
قومـــــه راپورتـــــه شـــئ همـــت دے پکـــار

(۱)

قومـــــه راپورتـــــه شـــئ تبـــاه نشـــئ
لکـــه د پيـــاز پـــه ګُـــټ کـــې ســـخا نشـــئ
د کنـــــدو شـــــاته پـــــه ژړا نشـــــئ
د غيـــــرو خلقـــــو د خنـــــدا نشـــــئ
مېـــدان تـــه اوزئ غيـــرت دے پکـــار
قومـــــه راپورتـــــه شـــئ همـــت دے پکـــار

(۲)

دلتـــه ديـــره کـــوم قصـــابان چـــې وينـــئ
دا خـــود غرضـــه مشـــران چـــې وينـــئ
دغـــه د امـــن قـــاتلان چـــې وينـــئ
زمـــونږ د وينـــې دښـــمنان چـــې وينـــئ

دې ظالمانو نه نفرت دے پکار
قومه راپورته شئ همت دے پکار

(۳)

که دا خپل قوم تباه کول نه غواړي
که زمونږ حق په بل خوړل نه غواړي
که ځان د غل په نوم بلل نه غواړي
که غریبان خرابه ول نه غواړي
خپلو کې مینه محبت دے پکار
قومه راپورته شئ همت دے پکار

(۴)

مونږه چې خپلو کې خواږۀ شو سره
چې یو اواز شو یوه خلۀ شو سره
لکه یو رونه پښتانۀ شو سره
په وه به په خوند د ژوندانه شو سره
اکمله! مونږ له جمیعت دے پکار
قومه راپورته شئ همت دے پکار

غل

قـوم يـې تبـاه کـه داسـې غـل دے پکښـې
ښـه ورتـه پتـه ده خـو چـل دے پکښـې
نـن سـبا ملـک کـې د رشـوت پـه وجـه
د خـان مـزې دي د دولـت پـه وجـه
د سياسـت منافقـت پـه وجـه
غريـب تبـاه دے د غربـت پـه وجـه
پښـتنه نشـته دے اوربـل دے پکښـې
ښـه ورتـه پتـه ده خـو چـل دے پکښـې

(۲)

پرتـې چـې مخکښـې د مالـدار غوښـې دي
چـې خـوار کـه د هـر بـادار غوښـې دي
دا د ناچـاره غريـب خـوار غوښـې دي
زمـا او سـتا غوښـې د ښـکار غوښـې دي
جـوړ شـوے مـونږه تـه اټلـک دے پکښـې
ښـه ورتـه پتـه ده خـو چـل دے پکښـې

(۳)

د دې ستم نه هر بشر خبر دے
پتهٔ تري نه ده برابر خبر دے
ملګرو ښه په زیر او زور خبر دے
تري چې راسي بابو افسر خبر دے
ځکه څه نه وائي چې ول دے پکښې
ښه ورته پته ده خو چل دے پکښې

(۴)

دا څه د ظلم کارنامې جوړې شوې
زمونږ د غوښو نه قیمې جوړې شوې
د دغه سپو پرې څه غویمې جوړې شوې
تیکې تري دوي له د غرمې جوړې شوې
لاد شرابو پروت بوتل دے پکښې
ښه ورته پته ده خو چل دے پکښې

ځلمے یم

زهٔ نغمـــه د ســـوي زړونـــو
اودهٔ روح بېدارومـــــــــه
زهٔ شـــپیلیِ د اســـرافیم یـــم
مـــــړي هـــــم راپاڅومـــــه
زهٔ یـــو تنـــدر پـــه ظـــالم یـــم
ســـــره اورونـــــه بلومـــــه
کلـــه کلـــه زلزلـــه شـــم
محلونـــــــه لړزومـــــــه
د دې خـــــاورې دښـــــمنانو
ننګیـــالے پښـــتون ځلمـــے یـــم
زهٔ د خپـــل وطـــن پـــه مینـــه
لېـــونے یـــم ســـپیلنے یـــم

(۲)

دا وطـــــن د پښـــــتنو دے
پـــه دې خـــاوره کـــې مســـتي ده
د دې دنګـــو دنګـــو غرونـــو
هـــــره تیـــــرهٔ قیمتـــــي ده

هـــر ځلمـــے د وطـــن ګـــل دے
هـــــره پېغلـــــه غيرتـــــي ده
پکښـــې زړونـــه خوشـــحالېږي
زمـــــونږ ســـــيمه جنتـــــي ده
تـــش ربـــاب لـــه تنـــګ ورکومـــه
نـــور همـــه نغمـــې نغمـــې يـــم
زهٔ د خپـــل وطـــن پـــه مينـــه
لېـــونے يـــم ســـپيلنے يـــم

(۳)

نـــور اودهٔ کښېناســـتے نشـــم
ګـــرځم قـــام راوېښـــه ومـــه
نـــــاخبره ســـــر ببـــــري
پښـــــــتانهٔ راپاروم
د غفلـــــت خوبونـــــو وړي
شـــــا ځلمـــــي رالړزومـــــه
چـــې مـــلا اوتـــړي راپـــاڅي
پـــه ببـــل ببـــل پســـې ورځمـــه
هـــر دښـــمن لـــره افـــت يـــم
خپلـــې خـــاوري لـــه ســـپرلے يـــم
زهٔ د خپـــل وطـــن پـــه مينـــه
لېـــونے يـــم ســـپيلنے يـــم

(۴)

د همـــــه چـــــاودلو زړونـــــو
د عمرونـــــو تمنـــــا يـــــم
محلونـــو کښـــې تـــورتم يـــم
پـــه جـــونګړه کـــې رڼـــا يـــم
د وطـــــن د ليلـــــیٰ زلفـــــې
د پښـــتو پـــه ژبـــه ســـتايم
د خپـــل مـــال و ســـره تپـــر يـــم
ځکـــه ســـپينې ســـپينې وايـــم
زولنـــې پـــه ښـــپو کـــې وړے شـــم
چـــې تـــر څـــو پـــورې ژونـــدے يـــم
زهٔ د خپـــل وطـــن پـــه مينـــه
لېـــونے يـــم ســـپيلنے يـــم

(۵)

د ټکـــــــرو د يزيـــــــدانو
نـــــه کومـــــه تپوســـــونه
لامـــې مخکښـــې مخکښـــې کېـــږي
د بـــــــابړې مېدانونـــــــه
دا د چـــا پـــه وينـــو ســـرهٔ دي
ګېـــــر چـــــاپېره د ډوالونـــــه
دي لـــوټ کـــړي راتـــه يـــاد دي

چـــا د پېغلـــو عصـــمتونه
چـــې فرعـــون لـــره موســـیٰ وه
د هغـــې نیکـــۀ نمســـے یـــم
زۀ د خپـــل وطـــن پـــه مینـــه
لېـــونے یـــم ســـپیلنے یـــم

(۲)

چـــې زمـــا د ســـر قاتـــل دے
ولاړ مخکښـــې د قصـــاب یـــم
زۀ یـــوه چغـــه د پښـــتون یـــم
زۀ تـــاریخ کـــې نـــوے بـــاب یـــم
ځمـــه بـــل لـــه غـــورۀ تاومـــه
زۀ بـــه څـــو د بـــل ربـــاب یـــم
د تـــن وینـــه مـــې جوشـــېږي
زۀ یـــو نـــوے انقـــلاب یـــم
چـــې پـــه ننګ غیـــرت پښـــتو مـــري
ځـــه پـــه هغـــه چاپســـې یـــم
زۀ د خپـــل وطـــن پـــه مینـــه
لېـــونے یـــم ســـپیلنے یـــم

ماسخوتن

نن هيڅ درک د رڼا هم نه لرو تور ماسخوتن
زما په زړۀ او ذهن دواړه وو راخور ماسخوتن

هسې مې ټوله شپه څارلې هغه لارې کوڅې
دې نه به ښه و که تېر کړے مې وے کور ماسخوتن

سمه د مړو ادیره وه د یارانو محفل
چې د جانان د خلې مې نه وه پکښې شور ماسخوتن

زۀ به يې نور د سپېره والي چاته څه وايمه
د تېرېدو نه وه خو تېر مې که په زور ماسخوتن

خلقه! که هسې څه ښکالو به مې تر غوږو شوله
کاواک کتل به مې هر خواته لو په لور ماسخوتن

لکه دا نن چې څنګه وه په مونږ مئينو باندې
اکمله! داسې دې خدائې نه راولي سپور ماسخوتن

د مزدور حال

دا چې په لاس کې د ظالم کارخانه دار ګټه ده
دا د نړۍ د دغه خړ پړ مزدور کار ګټه ده
دا په بنکونو خزانو کې چې انبار ګټه ده
په ظلم زور تري نه قبضه شه د دې خوار ګټه ده
د دې غریب پکښې ډوډۍ، جامه، پښزار نه رسي
په خپله ګټه کې حصه د مزدور کار نه رسي

(۲)

په خپل ګټلي مال کې ټول عمر نهار یو مونږه
شلېدلې غاړه بې څادره خوار و زار یو مونږه
نوابان مونږه نوابان کړه قصور وار یو مونږه
غمژن بدحاله وږي تږي قرضدار یو مونږه
په دې ژړا فریاد نعرو غوږ رپولے نشې
دې ظالمانو نه تپوس قدر کولے نشې

(۳)

وينې، خولې، اوښکې زمونږ دی پرې خانان کړي مزې
د تن په غوښو مو د نن وخت واکداران کړي مزې
تقسیم يې وکه کورنۍ کې پرې يې ياران کړي مزې
په رڼا ورځ د قام په لوټ او په تالان کړي مزې
اخر انصاف دے داسې ظلم چرته نه کېږي
تپوس چې نه کړې مشري اخیر په څه کېږي

(۴)

د خوار غریب دپاره ښار ناپرسان جوړ شه
د ډاکه مارو ورته ځائې په ځائې دوکان جوړ شه
څوک شه د لوږو تندو مړ څوک پکښې خان جوړ شه
اوس د دې خلقو په پیسه باندې ایمان جوړ شه
دا د الله رسول د لارې نه خلاف قیصه ده
دا د منصف په عدالت کې د انصاف قیصه ده



په وطن د غلې قحط دے نور به څه خورم
د ديدن خوارۍ دې راکړه چې يې وه خورم

زما لږ څه باندې هم ګزاره کېږي
اصراف نه کوم د مړے مړے يې نه خورم

دې کې هيڅ ستا د وئيلو حاجت نشته
زۀ په ښه او بد پوهېږم خو ساړه خورم

د ناکامه راته دواړه يو شان ښکاري
ستا دلاسه که خوارۍ خورم که ترانۀ خورم

د هغې پرهېزګارۍ نه مې توبه شه
چې تري په بهانه د نمانځه خورم

د دنيا خلق چې وينمه مزې کړي
زۀ **اکمل** لېونے هسې ځان له زړۀ خورم





اوس چې اکثر خلق خبرې کوي
زمونږ په سر خلق خبرې کوي
وايم د خير خبرې ولې نه کړي
دا چې د شر خلق خبرې کوي
بس خو چې اورمه نو بدې اورم
ښې به کمتر خلق خبرې کوي
بهر ته څوک چاپسې اونه وتل
په پورې ور خلق خبرې کوي
په زړۀ مې ناڅاپه رااورېږي
چې د دلبر خلق خبرې کوي
مونږ چې سحر چرته يو ځائې اويني
ټول مازيګر خلق خبرې کوي
کمزوري ټول لاس په نامه ولاړ وي
چې زورور خلق خبرې کوي
ساده **اکمله**! اوس نازک دي حالات
ډېر په هنر خلق خبرې کوي



رقيب د بدې ورځې خاندي ډېر پرې ښه پوهېږم
معصوم خو نه يم چې په دې خبرو نه پوهېږم
ما د حيا نه پوهه ځان ناپوهه کړے ورته
داسې نور کم خلق پوهېږي څنګ چې زۀ پوهېږم
بلا پسې شه نه پرې غم نه پرې ښادي کومه
په دې بې واره اوازونو د قارغه پوهېږم
زۀ د ښار نه د کليوالې علاقې پښتون يم
په کړلېچونو هم د سمې هم د غرۀ پوهېږم
څله مې ږدي په غړېدلو سترګو برغ لاسونه
نابينا نه يم په رڼا او په تياره پوهېږم
جانان که کلک په وعده پاتې شه بې لوظه نه شو
دنيا به اويني ملګرو په هر څه پوهېږم
دوه ژبې خلق دي **اکمله**! بروسه پرې نشته
پته يې لږي په خلۀ څه چې يې په زړۀ پوهېږم





اے خلقــه! زمــا څــوک دي نــور بــه چاتــه اوړم راوړم
دې لارو دې کوڅــو کــې خپــل اشــنا تــه اوړم راوړم

ســرۀ ســپين د چــا نــه وړم کليوالــو تنــګ نظــرو
د مينــې لېــونے د ديــدن غــلا تــه اوړم راوړم

پــه چغــو ژړېــدلے د عمرونــو غريــو نيــولے
پــه طمعــه يــې د خلــې يــوې خنــدا تــه اوړم راوړم

ويرېــږم د خپــل ځــان د ورکېــدو راســره غــم دے
تېــرو کــې يــې د ښــکلي مــخ رنــا تــه اوړم راوړم

مــرهم کــه مــې د خــوږ زړۀ پــه زخمونــو رالــه کېــږدي
درمــان تــه اوړم راوړم مســيحا تــه اوړم راوړم

اکمله ! خدائې دې خبر کړي سپے رقيب راته زمرے شه
تېــره تــوره پــه لاس دغــې بــلا تــه اوړم راوړم





ستا حسن ته ښکلا بخښي سپرلے په تا مئين دے
دا ځکه خو جانانه هر سړے په تا مئين دے

حيران يمه د کوم کوم دښمنۍ به په سر اخلم
دې کلي کې خو هر خپل او پردے په تا مئين دے

محفل کې د مئينو چې ستا ذکر چرته راشي
رقيب پکښې د ټولو نه وړومبے په تا مئين دے

ويرېږم يا به ما او يا به تا د تېغه تېر کړي
بدمعاش مې د خپل کلي خونړے په تا مئين دے

ستا نوم زما په زړۀ او زما نوم ستا په دېوال دے
زما د روح اشنا زما زړګے په تا مئين دے

کمزورے دے د چا سره د ضد کولو نه دے
اکمل خو ستا د مينې لېونے په تا مئين دے





ورکې دې وعدې شي ټکنې مې پرې یقین شه
شپه لاړه سحر شه د سحر نه ماسپښین شه
زۀ ورته حېران هسې په غټو غټو ګورمه
ما پیرلے هار د بل د غاړې لونګین شه
بل به اخر څوک وي چې مې ډاډ زړګي له ورکړي
زۀ چې په ژړا شوم جانان سم د خندا شین شه
څه ساده سړے وم پرې د سر و ماله تېر وم
هسې تهمتي شوم دا کوم جرم په ما تین شه
خلق که دین نه وي د نیا ګټه خو وکړي
خدایه لېونے **اکمل** د دین نه د سادین شه



څو شپې وشوې چې پرله پسې تا په خوب کې وینم
اشنا هر یو انداز دې نا اشنا په خوب کې وینم
په ویښه باندې هم بیا د معصوم غوندې بوږنېږم
په څنګ کې درسره توره بلا په خوب کې وینم
جانانه خدائې دې خبر کړي څه چل دے یا څه چل کېږي

دا دومره حادثې چې خامخا په خوب کې وینم
چا بیا جمهوریت له جوړ چاړه په مړۍ رابنکه
ملګري ټول خاموش دي مارشلاء په خوب کې وینم
اکمله! لېونیه په هر لور نفسي نفسي ده
یاران جدا جدا او وار خطا په خوب کې وینم

ماسره د مخکښې غوندې وس نه کوي
تېر مې شي جانان رانه په ترخ خبرې نه کوي
کله چې په برند نظر د لرې نه رااوګوري
ما کړي د بنو په سوکو غوڅ خبرې نه کوي
ځه ورته په شعر کې بلا خبرې وکړمه
دے راته په نثر کې واپس خبرې نه کوي
ټیک ده زۀ منمه چې خبرې ډېرې ښې نه دي
خلقه! دوه مئین خو څه عبس خبرې نه کوي
فرق لکه د شپې ورځې په مینه کې راغلے دے
څنګه به زمونږ په سر اولس خبرې نه کوي
ته ساده **اکمله**! په رښتیا لېونے شوے یې
روغ په شموزو کې د پیرس خبرې نه کوي



د چا خوا له د ورتللو مزه نشته
پردي څۀ کيې چې د خپلو مزه نشته

معلومېږي ساقي زهر پکښې ګډ کړه
په شرابو کې د څښلو مزه نشته

بې اعتباره دي بې لوظه بې وعدې دي
ملا پرې مه تړه د ښکلو مزه نشته

اوس سپرلي کې پېغلې هم نه ځي پټو ته
د شړشمو د غندلو مزه نشته

خوشې دشتې ځنګلونه تړې نه ښه دي
د پخوا غوندې د کلو مزه نشته

په دې خلۀ دې مهر اواهه **اکمله**!
د شعرونو د وئيلو مزه نشته



ګلونو ماشومانو

دي ستاسو په لور سترګې د قامونو ماشومانو
ګلونو ماشومانو اے ګلونو ماشومانو

(۱)

عزت کوئ د مور او پلار سره د استاذانو
هم قدر احترام ادب د ټولو مشرانو
حاصل کړئ لوړ مقام په ښه خویونو ماشومانو
ګلونو ماشومانو اے ګلونو ماشومانو

(۲)

ګلونو تعلیم وکړئ چې هم تاسو افسران شئ
چې یا انجنیران شئ یا له خپره ډاکټران شئ
پوره مو ارمانونه شه د زړونو ماشومانو
ګلنو ماشومانو اے ګلونو ماشومانو

(۳)

محنت کوئ ګلونو ځان ساتئ د عیاشو نه
د خوشو ګرځېدلو د نشو او تماشو نه
اے ستورو د مور و پلار د قسمتونو ماشومانو
ګلونو ماشومانو اے ګلونو ماشومانو

(۴)

هم ډېره ضروري ده صفائي چې مو سپوا وي
بدن صفا ، جامه صفا ، خوراکه چې هم صفا وي
چې ژوند وي د مزو او د خوندونو ماشومانو
ګلونو ماشومانو اے ګلونو ماشومانو

(۵)

خدمت د قوم او ملک نه چې غافل نشئ هیڅکله
تاریخ به مو ژوندے ساتئ نومونه تل تر تله
شه ستاسو هر کردار صفتونه ماشومانو
ګلونو ماشومانو اے ګلونو ماشومانو

(۶)

چې ناسته هم ولاړه هم مو تلل د سړیتوب وي
خبرې مو یو بل سره کول د سړي توب وي
عبس مه وهئ منډې په سړکونو معصومانو
ګلونو ماشومانو اے ګلونو ماشومانو

(۷)

خوراک کوئ په داسې طریقه چې ډېره ښه وي
ښودلې چې مور پلار او یا استاذ درته قائده وي
چې ښکار نه شئ د غیر د تهذیبونو ماشومانو
ګلونو ماشومانو اے ګلونو ماشومانو

وادۀ

زمونږ د زړونو د تسکين وادۀ دے
نن د خپر د ځوي رينبتين وادۀ دے

ګرانو ملګرو شاعرانو زما
رنګينۍ اوشيندئ رنګين وادۀ دے

مونږ د شعرونو د ډيوو په رڼا
خلقو ته وښوده حسين وادۀ دے

د اپريدو په غيرتي خاوره کښې
تور د هيڅا نه مني سپين وادۀ دے

د جمرود خلق په ځان نه پوهږي
پيرونه کږي په مشين وادۀ دے

ننني شپه به روښوو **اکمله**!
شعرونه اووايه شيرين وادۀ دے

سهرا

نشې نشې خمار خمار وادۀ دے
نن د ځلمي ایاز ابشار وادۀ دے
دلاور خان به څنګ خوشحاله نه وي
چې یې د ښکلي برخوردار وادۀ دے
ښې ورته رنګ په رنګ سهرې واچوئ
دا خو نزدې خوا کې د ښار وادۀ دے
دي یې سرونه د حیا نه ښکته
سر وې شرمېږي د چینار وادۀ دے
پکښې راغلي پښتانۀ شاعران
شعرونه وائي وار په وار وادۀ دے
مونږ په شعرونو به ماړه کړو خلق
دا به څوک نه وائي چې خوار وادۀ دے
ملګرو اوشیندئ پرې ډېر ګلونه
چې په موسم کې د بهار وادۀ دے
د سوکنو د میا عمر کلي کښې
زمونږ د دوست زمونږ د یار وادۀ دے

ځمه د دې کلي نه

نـــور ورپکښـــې نـــه اوســـمه ځمـــه د دې کلـــي نـــه
کـــډه پـــه حيـــا کـــې چرتـــه وړمـــه د دې کلـــي نـــه

(۱)

نـور ورپکښـې نـه اوسـمه زړۀ مـې تـرې مـوړ شـوے دے
ننـګ غيـرت د خلقـو د زړګـو نـه نچـوړ شـوے دے
اوس د پښـتنو تـاريخ هيـر شـوبدے زوړ شـوبدے
څـه بـه وايـم ښـار ناپرسـان تـرې نـه جـوړ شـوبدے
څـه خـو قـدرتي د ويـرې مرمـه د دې کلـي نـه
کـډه پـه حيـا کـې چرتـه وړمـه د دې کلـي نـه

(۲)

دې نـه خـو والله چـې پـه ځنګـل کـې اوسـېدل ښـه دي
دې نـه خـو د بـل د غلامـۍ ژونـد تېـرول ښـه دي
دغسـې بـې ننګـو پښـتنو نـه خـو مغـل ښـه دي
غـوره دي پـردي تـرې نـه دا چـا ويـل چـې خپـل ښـه دي
بـس دے نـور دا ځـان راټولومـه د دې کلـي نـه
کـډه پـه حيـا کـې چرتـه وړمـه د دې کلـي نـه

(۳)

تیـــک ده زهٔ مـــنم چـــې دا مـــې وه د پـــلار نیکـــهٔ کلـــے
امـــن او انصـــاف چـــې پکښـــې وه یاد ښـــه ښـــه کلـــے
مـــونږه بـــه بـــل کلـــے یـــادوه چـــې دادے څـــه کلـــے
اوس بـــه داســـې بـــل نـــه وي د دهٔ غونـــدې ســـپېره کلـــے
خونـــد د ناســـتې نشـــته دے پاڅمـــه د دې کلـــي نـــه
کـــډه پـــه حیـــا کـــې چرتـــه وړمـــه د دې کلـــي نـــه

(۴)

خـــتم شـــریفان شـــو بدمعاشـــان یـــې مشـــري کـــوي
ویـــنم چـــې د امـــن قـــاتلان یـــې مشـــري کـــوي
دې غضـــب تـــه ګـــوره غلـــهٔ ډاکـــوان یـــې مشـــري کـــوي
واړه نابالغـــــه هلکـــــان یـــــې مشـــــري کـــــوي
نـــوره مـــې د خبـــر نـــه کـــږي طمعـــه د دې کلـــي نـــه
کـــډه پـــه حیـــا کـــې چرتـــه وړمـــه د دې کلـــي نـــه

(۵)

زهٔ ســـاده ســـړے د دې قیصـــو نـــه څـــه خبـــر ومـــه
زهٔ د ایمـــان خرڅـــو پښـــتنو نـــه څـــه خبـــر ومـــه
زهٔ د سازشـــونو د دهوکـــو نـــه څـــه خبـــر ومـــه
زهٔ د خـــود غرضـــو د جرګـــو نـــه څـــه خبـــر ومـــه

مـا خـو وې دا خپـل نصـيب بـه خورمـه د دې کلـي نـه
کـډه پـه حيـا کـې چرتـه وړمـه د دې کلـي نـه

(۲)

نـه کښـې زمـا ګـزاره نـوره پـه دې کلـي کښـې
ګرځم چې په شته کور کې بې کوره په دې کلي کښې
ومـې ژړل ډېـر پـه زوره زوره پـه دې کلـي کښـې
پـاک پـاتې کېـدے نشـم د تـوره پـه دې کلـي کښـې
ورک بـه شـم **اکملـه**! بـې موسـمه د دې کلـي نـه
کـډه پـه حيـا کـې چرتـه وړمـه د دې کلـي نـه

ګډ

یوه ګړۍ مې نه هېرېږي جانان
ملګرو بیا بیا مې یادېږي جانان
ګرانه ده څنګه به تړې صبر شمه
زما په سترګو کې غړېږي جانان
چرته چې ذکر څوک د ښکلو وکړي
په زړۀ مې سم رااورېږي جانان
هلته فضا شي سپرلیزه غوندې
په کومه سیمه چې تېرېږي جانان
اکمله! ځکه احترام یې کوم
د زړۀ په کور کې مې اوسېږي جانان

ګډ



په والله که نور دچا راسره غم دے
ښکلیه یاره! بس یو ستا راسره غم دے

معلومېږي حال د زړۀ زما د رنګه
هسې نه ویم خامخا راسره غم دے

هیڅ پروا مې په دې خپله ژړا نشته
ستا د سترګو د خندا راسره غم دے

د دنیا په خوشحالۍ مطمئین نه یم
څه به وایمه پېدا راسره غم دے

پښتانۀ ترې نه په خپله مخالف دي
د دې خواري پښتونخوا راسره غم دے

چرته سر لکه مجنون په غرونو نشي
د **اکمل** د لېوتیا راسره غم دے





اوس اعتماد اخر په چا وکړم
په کوم طبیب د رنځ دوا وکړم

کوي بدل کې یې جفا راسره
زۀ چې د چا سره وفا وکړم

د خندا شین شي سم په شا اوړي
فریاد چې مخکښې د اشنا وکړم

ماته یې ډېر عمر خپرې کړي دي
پرېږدی چې ښکلو ته دعا وکړم

د خلقو مخکښې د ناکامه خاندم
کله چې ځان له شم ژړا وکړم

اکمله! کلے هغه کلے نه دے
اوس به تري کډه خامخا وکړم





پردي خو پرېږده خپل هم د چا تپوس نه کوي
ښادي لا څه که چې په غم د چا تپوس نه کوي

بيا د انسان او د حېوان تر مينځه فرق څه دے
چې په سختي که بنيادم د چا تپوس نه کوي

مونږه يې هسې صفتونو باندې نه مړېدو
اوس معزز او محترم د چا تپوس نه کوي

د لرو کلو فاصلې به درته نه يادوم
خوارۀ ملګري د يو چم د چا تپوس نه کوي

چې په چا پرېوته متل دے په هغو پرېوته
ګيله دې نه کړي نور عالم د چا تپوس نه کوي

غوره به دا وي چې دا زړۀ تري نه راونغاړو نور
اګمله! ښکلي په قسم د چا تپوس نه کوي





ښائست که لکه تخم غورځولے دے جانان
ما هم د زړۀ په للمه کې کرلے دے جانان

هیڅ قید په خلقو نشته چې څه وائي اجازت دے
ملګرو په سر سترګو مې منلے دے جانان

په ژبه د اقرار تصدیق مې کړېدے په زړۀ کښې
دا وایم د هر چا نه راته ښکلے دے جانان

اوس ګرانه ده چې صبر د ناصح په نصیحت شم
قدرت مې په خمبیر کې اغږلے دے جانان

زما پشان یې ډېر داسې د مینې لېونې دي
د خلقو په دې زړونو مې ویشلے دے جانان

دے وخت د ملاقات کې خو څوک مه راولے خدایه
دلاسه مې نیولے اودرولے دے جانان

محفل کې یې د نوم په اورېدو خلق حېران شه
اکمله! په غزل کې مې ستائیلے دے جانان





دې ژړا ویر ماتمونه ته دې خیال دے
دې قتلونو دې مرګونو ته دې خیال دے
پخوا یو د ادم ځوئې د رور قاتل وۀ
نن د هر سړي جرمونو ته دې خیال دے
چې په مونږ د شین اسمانه راغورزېږي
د اورونو تندرونو ته دې خیال دے
فصل ځه زمونږ سرونه یې مېده کړل
د شنو کاڼو بارانونو ته دې خیال دے
ښار په ښار کلي په کلي چوي بمونه
د بارودو دې بویونه ته دې خیال دے
عجیبه ده هم مړه کېږو هم پرې کېږو
دې روانو سازشونو ته دې خیال دے
انسانان لکه څاروي پکښې خرڅېږي
دې مېلو ته بازارونو ته دې خیال دے
چې یې څوک پېژند ګلو کولے نشي
ځائې په ځائې پرتو لاشونو ته دې خیال دے
زۀ یې ستا ، ته یې زما د سر قاتل کړې
دې وهمونو ګمانونو ته دې خیال دے
چې انجام یې تباهي ده د قامونو

موجوده مصلحتونو ته دې خيال دے
سوداګر پسې ډالرو په لاس ګرځي
د سرونو نيلامونو ته دې خيال دے
سحر اوشي په کچه غرمه ماتېږي
دې وعدو ته دې لوظونو ته دې خيال دے
مينه نشته نفرتونه تري خورېږي
د يارانو محفلونو ته دې خيال دے
اسلام نه اسلام اباد ورپکښې ستائي
دې وعظونو تقريرونو ته دې خيال دے
ښه يې اورو په مطلب يې نه پوهېږو
دغه ګڼو اوازونو ته دې خيال دے
چې د مړو په ځائې ژوندي پکښې خښېږي
دا په لاړو کې قبرونو ته دې خيال دے
کله يو رنګ کله بل رنګ کې ښکاره شي
د نرخونو عذابونو ته دې خيال دے
چې غل بري کړي کوتوال غريب پانسي کړي
د انصاف عدالتونو ته دې خيال دے
د ځاروو په ځائې بنديان پرې ټکړې کېږي
دې چړو ته دې تبرونو ته دې خيال دے
زمونږ اوښکې خولې وينې يې رنګونه
د بادارو محلونو ته دې خيال دے

سید راحت شاه

سید راحت شاه زمونږ د کلي یو لوی عالم دین وه زما استاد وۀ. دا مرثیه مې د هغه په مړینه لیکلې ده.

د علمونـــو ســـمندر وې حقیقـــت کښـــې
لاســـره د دې مـــاهر وې پـــه حکمـــت کښـــې
ژونـد دې وقـف وه د خلقـو پـه خـدمت کښـې
شـک دې نشـته دے پـه مـرګ د شـهادت کښـې
تـــا دنیـــا لـــره د علـــم دولـــت ورکـــه
تـــا هـــر چـــا لـــه د مـــذهب تربیـــت ورکـــه

(۲)

تـــه دنیـــا کـــې د دنیـــا ځینـــې ویـــزار وې
تـــه پـــه حقـــه اســـلام د بـــاغ مالیـــار وې
تـــه زاهـــد وې متقـــي وې پرهېزګـــار وې
د الله پـــه مینـــه مســـت هســـې سرشـــار وې
د قضـــا ملائیکـــې څـــومره تـــادي وکـــړه
چـــې د کـــوره یـــې ډاکـــه د ســـعدي وکـــړه

(۳)

د عـــالم مـــرګ واقعـــي وي د دنیـــا مـــرګ
دا دوبـــم محـــرم ښـــکاري راتـــه ســـتا مـــرګ

دا منمه چې راځي به په هر چا مرګ
کړې د مخه د جهان ځینې فنا مرګ
سل دې اُمره یو دې مه مره دا متل دے
تالاشوے ستا نه پس د ژوند محفل دے
ته د وخت تورو تیرو کې بل مشال وې
ته هنداره د جلال او د جمال وې
چې مثال یې چرته نشته هغه لال وې
لکه تخم د هر چا په زړۀ کې نال وې
په مرګ سود نه وي د چا خو حقه لار ده
دا هر چا باندې راتلونکې وار په وار ده

(۴)

په ګور نور شې تور لحد دې چراغان شه
په نصیب دې د جنت حوري غلمان شه
په مزار دې رحمتونه د سبحان شه
سوال جواب صراط میزان درته اسان شه
د **اکمل** به هرګز هیر نشې د زړۀ نه
اے په مونږه د مور پلار غوندې مئینه

چشتي مې نه هېر يږي

دا نظم مې د ګل رازق چشتي په مرګ ليکلے وو او د هغه د څلوېښتے په موقعه مې په يوه درنه مشاعره کې اورولے وه. ۲۵ / ۱۲ / ۱۹۹۱ء

سبا بېګا زما په سترګو کې غږېږي
خلقه! چشتي مې نه هېرېږي
په هر ساعت کې راته مخکښې مخکښې کېږي
خلقه! چشتي مې نه هېرېږي

(۱)

د پښتو ژبې يو شاعر، ادیب، ليکوال وه هغه
زما په خيال خو د خپل دور يو خوشحال وه هغه
خلقو منمه يو شخصيت کمال کمال وه هغه
په تاريخونو کې به عمر له يادېږي
خلقه! چشتي مې نه هېرېږي

(۲)

د کونډو رنډو مظلومانو سره مل وه چشتي
د هر ظالم په سينه خښ لکه د شل وه چشتي
دې فرعوني معاشرې لره اجل وه چشتي
نور نه ډاکو وه نه قاتل سمګلر نه غل وه چشتي

د قام خادم وؤ خپل پردي پسې ژړېږي
خلقه! چشتي مې نه هېرېږي

(۳)

تاڼه تحصيل به يې اشنا هم نا اشنا له کول
بغېر لالچه خدمتونه يې هر چاله کول
پټ چان نه دي هم يې ماله هم يې تاله کول
ده د پښتو کارونه ننګ غيرت حيا له کول
پوهه شوم دے په خپل عزت سړے قتلېږي
خلقه! چشتي مې نه هېرېږي

(۴)

د باچا خان بابا د فکر يو ژوند دے پښتون وؤ
يو ننګيالے يو توريالے پښتون وؤ
دا حقيقت دے زېرولے پښتون وؤ
مونږه پرې دا فخر کوو چې يوسفزے پښتون وؤ
خو خبر نه وم چې به زر رانه بېلېږي
خلقه! چشتي مې نه هېرېږي

(۵)

که د مراز شاني عبدل محمد رو وه چشتي
که د اقبال محمد علي د ښوال د کوره چشتي

نو د ادب د ګلستان مالیار غمخور وه چشتي
د دې تمامې پښتونخوا د سترګو تور وه چشتي
شاعران ځکه یې په قبر راغونډ ېږي
خلقه! چشتي مې نه هېرېږي

(۶)

څنګ چې حسېن سره په دشت کربلا اوشو
ده سره هم دا هسې ناشوني ناروا اوشو
په ظلم مړ دے زیاتیات ورسره دا اوشو
ده چې شعرونو کې څه وې هغه رښتیا اوشو
اوس خامخا به په چشتي شهید یاد ېږي
خلقه! چشتي مې نه هېرېږي

(۷)

راځئ چې اوشیندو ګلونه د چشتي په قبر
بل کړو د مینې مشالونه د چشتي په قبر
ملګرو اووایو شعرونه د چشتي په قبر
چې پېښ کړو خپل عقیدتونه د چشتي په قبر
په څه وئیلو به زمونږ نه خوشحالېږي
خلقه! چشتي مې نه هېرېږي

بابا غزل

دا څو شعرونه مې د حمزه صحب په مړينه ليکلي وو.

چې پرې اباده وه دنيا د غزل
يوړه اجل هغه بادشاه د غزل
د سمندر غوندې بابا د نظم
ورته وئيلے دے بابا د غزل
دې نه هيڅوک انکار کولے نشي
حق يې په حقه کړو ادا د غزل
سپرلے به څنګه د خپر نه لاړ شي
سپړدې غوټې لري بلا د غزل
چې يې د خپلو وينو سرۀ ورکړي
خور دے ښائست په پښتونخوا د غزل
ناظر خاطر وه که خپر اپريدے
په رنګ کې رنګ وو د حمزا د غزل
ورته حيران ګوته په خلۀ پاتې وو
چا چې په سر غوښته دعا د غزل
ناز به پرې څنګ پښتو ادب نه کوي
هره وېنا يې وه وېنا د غزل

خپر افريدے

دا نظم مې د خپر افريدي په مرګ ليکلے وو

خوږو ملګرو عجيبه غوندې سړے وه خپر
په روغو خلقو کې د مينې لېونے وه خپر
د لر و بر پښتنو لويو هم وړو پېژندو
په ادبي دنيا کې خور لکه سپرلے وه خپر
په خوږه ژبه به يې هرې ژبې خوند کولو
خپرے څه چې پېښورے هم يوسفزے وه خپر
په فاصله باندې د يو د بله ډېر لرې وو
تړون د زړۀ د نومو لرو راته نزدې وه خپر
بېدارول يې اودۀ خلق د شعرونو په شور
غږ جرس د پښتنو د قافلې وه خپر
د حقيقت نه که څوک خپلې سترګې نه پټوي
د دې تمامې پښتونخوا د سر پټکے وه خپر
چا تري د لوئې جدايۍ په وخت پښتنه اوکړه
لکه د ګل غوندې په پټه خلۀ مسکے وه خپر
متل دے وائي سل دې اومره ولې يو دې مه مره
محفل به ګرم وه چې چرته به پکښې وه خپر

کله که هم به څه د ضد پښتو خبره راغله
په ځان له تن به بیا د هر چا نه وړومبے وه خپبر
په غم ښادۍ کې به شریک وه د یارانو سره
د خوند دپاره کله مالګه مرچکے وه خپبر
مونږ پرې ماتم نه کوو مونږ پرې مرثیې نه وایو
د ښو شعرونو به کمال سره ژوندے وه خپبر

چې پېدا کړے یمه خدائې په زمانه د ښکلو
څنګه به نه کوم ملګرو یارانه د ښکلو
که څه خبره د ښې بدې مینځ کې وي که نه وي
زۀ د دیدن دپاره ګورمه بهانه د ښکلو
د مجبورۍ نه حال د زړۀ په خلۀ وئیلے نشم
په کاڼو لږمه په چم کې روزانه د ښکلو
ویښته مې سپین شو د پینځوستو کالو واوړېدمه
پوهه لا نه یم د خبرو په معنیٰ د ښکلو
که څوک پرې ښه وائي که بد وائي پروا نشته دے
د **اکمل** خوښه ده تمامه خپلخانه د ښکلو

شېر علي باچه انور

دا شعرونه مې د شېر علي باچا انور د کلیزې په موقعه د هوتي مردان په یو لویه مشاعره کې واورول.

ګرانه ننګیالیه توریالي باچه
هېر به رانه نشې شېر علي باچه

مونږ دې سپېره خزان ته پرېښودو
یو دې ړل د ځان سره سپرلي باچه

نن محمود خان بې لتا نیمګړے دے
شي په بل چا یې تسلي باچه

تاپسې د کوئیټې پښتانۀ ژاړي
اوس به ځان له څوک هلته بلي باچه

اوس به په زرګونو خلقو ډک نشي
ستا په تلو چې کوم ځائې شو خالي باچه

ډېره د غلې د قحطه سخته ده
ستا د ديدنونو قحط سالي باچه

زهٔ يې نوابان او خانان څه کوم
ته وې د دې سيمې شېخ ملي باچه

درس دې د يووالي ورکوو ورته
وو که پښتانهٔ ټولي ټولي باچه

نوم د کالا باغ چې چا اغستے دے
تاپسې راغستے کودالي باچه

ډېر دي باچاګان خدائې دې ژوندي لري
ته وې پکښې ځان له مثالي باچه

بوي خو به رائي ستا د غيرت تري نه
کرم دې په قبر کشمالي باچه

راحت علي شهيد

دا مرثيه ما دراحت علي په مرګ ليکلې وه د عبدالنبي په فرمائش راحت علي د ګړهي کپوري د فريدون ځوئې وو د مردان اډې سره خوا کې دبم په دهماکه کې سره د ډېرو کسانو شهيد شوے وو په ۱۱ اګست ۱۹۸۷ء د هغوي د څلوېښتي په موقعه مې اورولې وه ۲۲ / ۹ / ۱۹۸۷ء

هدايت الله، مراد علي، لياقت علي او ظاهر علي يې رونه وو ، سليمان زوې وو چې ماشوم پاتې شه.

په دهماکه کې دمردان شهيده
راحت علي د ګل په شان شهيده
مرګے خوشته دے په هر چا به راځي
هم په بادشا هم په ګدا به راځي
خلاصے ترې نشته خامخا به راځي
ولې ستا مرګ وه د ارمان شهيده
راحت علي د ګل په شان شهيده

(۲)

خلق که وائي چې دا کم تاريخ وۀ
اتمه مياشت يولسم تاريخ وۀ
دا په ربښتيا د لوې ماتم تاريخ وۀ
سوات ته د کوره شوې روان شهيده
راحت علي د ګل په شان شهيده

(۳)

د خپلـــه کـــوره چـــې ســـحر اووتـــې
پـــه نيـــت د ســـوات د لـــوئې ســـفر اووتـــې
مـــردان اډې نـــه چـــې بهـــر اووتـــې
ناڅاپـــه اوچـــاودل بمـــان شـــهيده
راحـــت علـــي د ګـــل پـــه شـــان شـــهيده

(۴)

چـــا پـــورې لاس ښـــپه د چـــا ســـر نـــه وۀ
د چـــا د لاشـــه څـــوک خبـــر نـــه وۀ
هـــيڅ د کتـــو دغـــه منظـــر نـــه وۀ
بـــې ګنـــاه مـــړه شـــول مظلومـــان شـــهيده
راحـــت علـــي د ګـــل پـــه شـــان شـــهيده

(۵)

کـــور تـــه چـــې ســـتا کلـــه خبـــر راغـــے
خبـــر دې څـــه وۀ خومحشـــر راغـــے
غـــم پـــه هـــر چـــا لکـــه د غـــر راغـــے
تولـــو راکښـــودل پـــه ځـــان شـــهيده
راحـــت علـــي د ګـــل پـــه شـــان شـــهيده

(۶)

هـــدايت الله مـــراد علـــي پـــه چغـــو
هـــم بـــه ژړل ليا قـــت علـــي پـــه چغـــو
پـــلار ســـره وه ظـــاهر علـــي پـــه چغـــو
ځـــان درتـــه وژنـــي شـــاګردان شـــهيده
راحـــت علـــي د ګـــل پـــه شـــان شـــهيده

(۷)

ســـتا د محفـــل واړه يـــاران ژاړي
پـــه چغـــو چغـــو پـــه ارمـــان ژاړي
عبـــدالنبي شـــلوي ګربـــوان ژاړي
قربـــانوي لـــه تانـــه ځـــان شـــهيده
راحـــت علـــي د ګـــل پـــه شـــان شـــهيده

(۸)

دا يـــو معصـــوم بچـــے دې چاتـــه پرېښـــود
دا دې بـــې بـــې کـــه دې دادا تـــه پرېښـــود
کـــه دې غمونـــو د دنيـــا تـــه پرېښـــود
ســـلګو نيـــولے ســـلېمان شـــهيده
راحـــت علـــي د ګـــل پـــه شـــان شـــهيده

(۹)

تاسره نور هم ډېر کسان راحته
په دردناک مرګ مړه شو خواران راحته
بلا واړه زاړه ځوانان راحته
شه مو نصیب حوري غلمان شهیده
راحت علي د ګل په شان شهیده

(۱۰)

دا چې په خوار اولس بمان وروي
دا نه سیکهان نه انګرېزان وروي
په مونږ یې خپل مسلمانان وروي
ډېر شته سنګدله ظالمان شهیده
راحت علي د ګل په شان شهیده

(۱۱)

سېوا د دې نه څه وئیلے نشم
په تا د سوز ابیات لیکلے نشم
ولې هرګز دې هېرولے نشم
په ما **اکمل لېوني** ګران شهیده
راحت علي د ګل په شان شهیده

ماجد

عبدالماجد زما زوئي زما په ږيره کې سپين وښته لګېدلي وو چې په ۳ جنوري ۱۹۹۸ء کې پيدا شه او په ۲۷ / ۱۱ / ۱۹۹۸ء وفات شه. حکمت خان يې مشر رور وو او ولي يې د تره زوئي وو.

څه به دې وايم د بې وخته جدائې ماجده
زمونږ يې وراني کړې د زړونو ودانې ماجده
ته که معصوم وې غم دې دروند وه لکه غرونه غرونه
رانه يې اوترورړل خواږۀ د زندګۍ ماجده
زۀ چې به کور ته کله ستړے د روزګار راغلم
ستا په ليدلو به دمه شوم ګل غوټۍ ماجده
خور به دې وې اوس به بابا مونږه له راکړي روپۍ
تا له به واخلم په دوکان کې پرې مامۍ ماجده
چې به دې ترونه په سحر کې ستا ليدو له راغلل
تا به خورې کړې ورته زر خپلې چاچۍ ماجده
لکه د زرکو به مو يو بل ته ټوپونه وهل
په تا نيمګړې دا نور شو له جوړۍ ماجده
راتلل دې داسې خوشحالي وه لکه سل اختره
تلل دې قيامت وه نمړېدې د زړۀ مانۍ ماجده
مونږ د خپل وس مناسب ستا دارو درمل هم وکړه

خو په تا هیڅ اثر ونه کړو دوائي ماجده
ستا په قضا د خدائې رضا وه مونږ به صبر کوو
د برداشت کله وه دا ستا د مرګ سختي ماجده
زمونږ په زړونو کې صفا لکه چړې خښېدې
د مور په غېږ کې ستا وړې وړې سلګۍ ماجده
لکه مارغان د چا د لاسه نه څه اوتښتوي
دغسې یورلې چپو د بیماریٔ ماجده
ته بختور یې د حساب کتاب د غمه خلاص یې
پرتې دې مونږه ته بلا سختي ګاتیٔ ماجده
که به په غېږ کې حکمت خان که به ولي واغستې
تا به شروع کړې خوشامندې مرادیٔ ماجده
چې د ملګرو سره سېل د جنتونو کوې
او مېره مونږ له د اعلیٰ درجې ځیٔ ماجده
نور مې هم ډېر بچي مړه شوي خو هېر شوي مې دي
ته به مې هېر نشې که تېرې شي صدیٔ ماجده
روستو پېدا شوې خو د مرګ په لاره مخکښې لاړې
دغه ترتیب دے د میراتې زندګیٔ ماجده
که خبر وي دغلته زمونږه شفارست به کوې
اے د مور پلار د زړګي زخم له پټیٔ ماجده

غزل

ژوند لکه وجود کې چې د سا نه بغېر نه کېږي
داسې ګزاره مې د جانانه بغېر نه کېږي

حورې وي غلمان به وي جنت کې فرښتې به وي
هیڅ یې ښکلے والے د انسانه بغېر نه کېږي

ولې ملا دومره د دنیا مخالفت کوې
غم د اخرت خو د دنیا نه بغېر نه کېږي

څو چې لکه وینه د سرو شونډو د زړۀ په دشته اوره
للمو کې فصلونه د باران نه بغېر نه کېږي

ملک ازادول به د سرونو قرباني غواړي
ګټه خو ملګرو د تاوانه بغېر نه کېږي

صبر اخر څنګه به په ژوند د مئینتوب به شم
خلقه! شاعري د مئینتابه بغېر نه کېږي

ډېر که په وطن مې څوک خوارۀ نومونه کېږدي
سود پرې د **اکمل** د پښتونخوا نه بغېر نه کېږي

د نظره به شې

هر چاته مه خانده جانانه د نظره به شې
زړۀ ته راتېره په ما ګرانه د نظره به شې
مور يې لا څه کے چې دا خلق وېږي هم نه زغمي
درته به پېښه شي د ځانه د نظره به شې
چا هوښيارانو د ښه زړۀ نه دا متل کړېدے
زلمو موندلې د خندا نه د نظره به شې
نن د ښائست په نشه مست يې په ځان نه پوهېږې
سبا به ډېر يې پښېمانه د نظره به شې
وږ سترګې خلق دې سړے په سترګو سترګو کې وړي
اے د **اکمل** ياره نادانه د نظره به شې



غزل

توبه توبه په تېره تېره جانان
ياد چرته هم نه کړم په هېره جانان
سېوا له دې نه به نور څه اوايم
وفا کړي لږه جفا ډېره جانان
بس دومره ده چې بې جانانه نه يم
ښه ده په شتو مې شته له خېره جانان

ملګرو راشئ بې نښې مې وژني
لاس د رقیب نه کړه چاپېره جانان
اکمله! نور څوک به مې څه یادوي
خپله چې وېستے یم د شمېره جانان



هله زر کوه جانانه سا مې لاړه
په سلګو کې راکړه راته غاړه
په سرو شونډو دې شروع سورت یسین که
ما دپاره بخښنه د خدایه غواړه
چې روښانه مخ د خدائې حضور ته لاړ شم
په کفن مې یو څو اوښکې تویې که ژاړه
جفاګاني به دې ټولې درته معاف کړم
چې دا یو نېکي دې وي راته ولاړه
زړۀ به چرې د **اکمل** ورته سپین نشي
ما او تا چې دلته څوک بېلوي دواړه



سره جنډا

سر پرې ورکوو زمونږ د لويو وړو خوښه ده
مونږه پښتانۀ يو دغه سرۀ جنډا مو ننبه ده

(۱)

مونږه پښتانۀ يو زمونږ خوښه ده دا سرۀ جنډا
نشته دے يوه د دې پشان قوي کره جنډا
مونږه اودرولې په خيبر او تاتره جنډا
دا راته د پل غيور نيکۀ نه پاتې برخه دۀ
مونږه پښتانۀ يو دغه سرۀ جنډا مو ننبه دۀ

(۲)

دا د رورولۍ او اخوت او محبت جنډا
دا د پت ښېګړې وفا ننګ تورې غيرت جنډا
دا ده د هر وخت د انقلاب د علامنت جنډا
دا د دې نړۍ د هر شهيد د کفن تخه ده
مونږه پښتانۀ يو دغه سرۀ جنډا مو ننبه ده

(۳)

دا جنډا چې لاس ته کړه سن تې کې بابا زمونږ
ټولو پښتنو ورسره اوټرله ملا زمونږ

تپښته يې شروع کړه دښمن نه کاته په شا زمونږ
ګوره د انګرېز غوندې جابر ترې کړې مخه ده
مونږه پښتانۀ يو دغه سرۀ جنډا مو نښته ده

(۴)


دې جنډا کې ښکاري د بابړې او ټکر وينې
دې کې کوي پرق د پښور او هشنغر وينې
دې کې د مردان د مارچ د لوئې بابا د سر وينې
دا مې د زړګي د هر پرهر د پاره پخه ده
مونږه پښتانۀ يو دغه سرۀ جنډا مو نخښته ده

(۵)

کوم داسې کُجا دے چې د دې مقابله اوکړي
سر اوخوري اخر چې دا جنډا په چا حمله اوکړي
وخت به ډېره ژر اکمله خپله فيصله اوکړي
دا لکه د توري د ظالم په سينه خښته ده
مونږه پښتانۀ يو دغه سرۀ جنډا مو نښته ده

مجبوري

دا د اوس نه، نه ده د پخوا نه مجبوري مې ده
غږ کولې نه شم د حيا نه مجبوري مې ده
دې غضب ته ګوره پرې خبرې ته دې وړه وايم
اے زما د زړۀ د کلي خانه مجبوري مې ده
پښتې چې په سر د تهمتونو الزامونو وړم
ګرانه ده خو څه اوکړمه ګرانه مجبوري مې ده
ټوله سرمايه د ژوند ې ستا نه صدقه کړله
خلق وائي سانه زۀ ويم دانه مجبوري مې ده
پښو لګېدو ته په زخمونو هم سمېږم نه
ځان دې رانه هېر که خپله ځانه مجبوري مې ده
کله کله داسې کېفيت په ما حاوي شي چې
شين شم په ژړا کې د خندا نه مجبوري مې ده
ما درسره سم سپين ږيرے ځان وړوکے کړېدے
يه د لېونې **اکمل** جانانه مجبوري مې ده



ماته ګناه ده ما په خپله مشهور که جانان
ځان ته مې تریخ بل ته مې خوږ لکه انګور که جانان

اوس چې یې څوک ویني په مخه تړې چکونه وهي
لکه د چرګ مې په سوچه غوړو کې سور که جانان

په هره لاړه چې تېرېږم طالبان مې ولي
ماته خپل کلے سم پنج پیر او شاه منصور که جانان

زهٔ یې د هارِ غرمو ته دغسې په ډاګه پرېښوم
په نورو خلقو لا د مینې سورې ګور که جانان

د زړهٔ په وینو مې لیکلے ورته مخکښې کېښود
هغه درخواست مې بې کتلو نامنظور که جانان

د ماهرانو حکیمانو نه مایوسه شومه
علاج یې نشته زما زړهٔ داسې رنځور که جانان

اکمله! دا ځل به خبره سپینوم ورسره
که خدائې په ویښه یا په خوب کې راحضور که جانان





چې د قسته مې جانان راپورې خاندي
خامخا به رقیبان راپورې خاندي

اوس د ناستې جوګه نه یم په محفل کښې
خپل ملګري او یاران راپورې خاندي

که د غم غلطولو په خیال ورشم
لېونې د بیابان راپورې خاندي

د مجنون غوندې د خپلو پردو ببل شوم
د ځان هم نه شوم جهان راپورې خاندې

عاقبت به تري نه کډه چرته یوسم
چې د کلي ماشومان راپورې خاندي

داسې پرېوتم د خلقو د نظره
پردي څه کې چې خپلوان راپورې خاندي

خدائې زده دا راباندې څه اوشو **اکمله**!
ننګ غیرت پښتو ایمان راپورې خاندي





د جار وتلو نه دے سم لېونے سپے دے رقيب
الله دې خبر کړي مات مې نه کي راپسې دے رقيب
زما په ضد چې يې جانان په صفت نه مړېده
ما ويل کوم داسې د پير بابا نمسے دے رقيب
که د ناکامه په خلۀ هېڅ ورته ويلے نه شم
په زړۀ مې نه ځائېږي چغې کړم پردے دے رقيب
زۀ ورته توان د مخامخ کتلو چرته لرم
راچوکه کېږي مې په سترګو کې ازغے دے رقيب
د خوښې نه دے عجيبه غوندې کې شے دے رقيب
د عاشقانو د سر درد د زړګي سوے دے رقيب
د ده په ژوند به دوه مئين خوشحالي څنګه اوکړي
په تندر اولګه د سور کافر بچے دے رقيب
بچ به تري نه شمه د شپو په رونېده **اکمله**!
زما د کلي د يو چم د يو کوڅې دے رقيب





دېته به څوک څنګ اوائي ښکلے پسرلے
راغے په سرو وينو لمبېدلے پسرلے
مري پکښې تنکۍ تنکۍ غوټۍ سره د ګلو
ورک شه دا سپېرۀ او سر خوړلے پسرلے
هېڅ د خوشحالۍ يې هم د ځان سره رانه وړل
ماله ماتوي د زړۀ غندلے پسرلے
څه به کوو خلقو ته شکوې شکايتونه
مونږه ژړوي مونږ خندولے پسرلے
چرته چې تپوس د چا نه اوکړم راته وائي
نه چرته کې تلے نه راغلے پسرلے
نه يې د اورېمې نه يې زغملے شو بادونه
داسې به هېڅا نه وي ليدلے پسرلے
نخښې يې **اکمله**! د خزان نه کړې بدلې
زۀ دا پسرلے وګنم ولې پسرلے



غلے ښه يم په وېنا ګنهګارېږم
که څه وايمه لا ګنهګارېږم

په رښتياؤ خپل پردي راسره نخښلي
په دروغو د لله ګنهګارېږم

د قاضي په بې انصافه عدالت کښې
په فرياد او په ژړا ګنهګارېږم

د رقيب که هيله نوم په بده اخلم
غضب دادے د اشنا ګنهګارېږم

اور دې پورې په دا هسې رنګ پښتو شي
چې په نوم د پښتونخوا ګنهګارېږم

داسې حال کې به څوک څه وائي **اکمله**!
بې قصوره بې ګنا ګنهګارېږم



سیاستونو دوستانې د پښتنو ورانې کړې
ډلو پرو پښې رشتې د پښتنو ورانې کړې
داسې هوا د مغربي تهذیب راواولتله
چې د پټکو نه یې شملې د پښتنو ورانې کړې
لیدل یې څه چې نوم یې اورمه بې خوده شمه
دې پښتنو څو نمونې د پښتنو ورانې کړې
د نابالغه هلکانو تنظیمونه جوړ شو
نقصان یې دا چې یې جرګې د پښتنو ورانې کړې
قلم یې مات شه او د لاس ګوتې یې اورژېږه
چې د تاریخ نه یې نامې د پښتنو ورانې کړې
ثقافتونه کلتورونه مو تالا والا شو
خلقو درنې لوئې حجرې د پښتنو ورانې کړې
اکمله! بلې کړو د چا په مزارونو ډیوې
اوس یې له سره ادیرې د پښتنو ورانې کړې



سوچ مې اونه کړو ما خوښ کړے په توکل دے جانان
اوس مې د سر د قاتلانو سره مل دے جانان

بلا تېره ازغي راته په زړۀ خښوي
ما خو وې ګل زما د څنې د اوربل دے جانان

څه اوکړم خدایه وس مې نه رسي بې وسه یمه
زما چې بدي شي د هغو سره تل دے جانان

په سپینه خوله راته خوږې پستې خبرې کوي
موقع ته ګوري پټ په زړۀ کې راته غل دے جانان

زما په هره قربانۍ باندې یې پښې رابښکلې
نن چې ښائست د غیر غمازو د محفل دے جانان

اکمله! نېغ ورته کتے نشم بوږنېږمه زۀ
اوس د پخوا پشان جانان نه دے بدل دے جانان



يو خوا پښتو بل خوا جانان دے خدايه څه به کېږي
مقابله ده امتحان دے خدايه څه به کېږي

بل خوا رقيب دے په هېڅ شان د جار وتلو نه دے
راسره سم په ضد روان دے خدايه څه به کېږي

دومره د مينې په انجام د ښکلو پوهه شومه
سود پکښې نشته دے تاوان دے خدايه څه به کېږي

يک تنها ناست يم څوک مې چغې فريادونه ناوري
دشته ده خوشې بيابان دے خدايه څه به کېږي

چې دوست دښمن خپل او پردے پکښې څوک نه پېژني
په داسې حال کې خو ژوند ګران دے خدايه څه به کېږي

يورم په مخه د وهمونو ګومانونو تېرو
اکمل په يو دوه کې حېران دے خدايه څه به کېږي





د مغرور اشنا ديدار ته
چې څنګ لاړم داسې راغلم
زړۀ مې نه کېږي بل وار ته
چې څنګ لاړم داسې راغلم

نن مې بيا دواړه لاسونه
په ازغو سوري سوري شو
په سپرلي کې هم ګلزار ته
چې څنګ لاړم داسې راغلم

زړۀ مې نه غوښته ملګرو
ما سودا پکښې ونه کړه
د دې ښار هر يو بازار ته
چې څنګ لاړم داسې راغلم

تږے تږے نا امیده
تراړې تراړې وچې شونډې
هغه شوم ساقي میخوار ته
چې څنګ لاړم داسې راغلم

یو نظر یې د وفا هم
خلقه! بیا په ما ونه کړو
ستم ګر او جفا کار ته
چې څنګ لاړم داسې راغلم

څه به جوړ شمه یارانو
زهٔ اکمل د لېونتوبه
په کلونو پس هم یار ته
چې څنګ لاړم داسې راغلم



څنګه چې وم هغسې يم تراوسه
ستا د يادونو دارو خورم تراوسه

خيالي تصوير دې په زړګي کې جوړ کړم
هسې پرې ځان مشغولوم تراوسه

ماته چې پل په پل ازغي خوروي
ګلان په هغه چا شيندم تراوسه

سره د پوهې په ځان نه پوهېږم
په تا د سر بازي ټړم تراوسه

شپه لاړه تېره شوه سبا اوختو
د راتلو لارې دې څارم تراوسه

تا چې د قصده په دروغه کړي
هغه وعدې رښتيا ګڼم تراوسه

څومره ساده يم زهٔ **اکمل** لېونے
چې ستا په سر شرطونه ږدم تراوسه





خپر دے که تا باندې زما خبرې ښې نه لګي
په ما بې ستا نه د بل چا خبرې ښې نه لګي
څوک چې د خلقو نه نفرت کړي مینه نه پېژني
په هغوي خود د مئینتیا خبرې ښې نه لګي
لکه ماشوم اوس بلد شوے د ژړا سره یم
راباندې ځکه د خندا خبرې ښې نه لګي
زهٔ چې جانانه کله ستا د خولې خبرې ناورم
بیا مې په زړهٔ د دې دنیا خبرې ښې نه لګي
زهٔ د هغو خلقو خبرو ته غوږ څنګ ونیسم
چې پرې زما د لېونتیا خبرې ښې نه لګي
د پنجابي او د سیندهي نه ګیله څنګه وکړم
چې په پښتون د پښتونخوا خبرې ښې نه لګي
اکمله! زړونه اوس د کانړو دي د غوښو نه دي
پرې د فریاد آه و ژړا خبرې ښې نه لګي



چينې

اوبه يې تکې سپينې ښې خوږې رڼې رڼې دي
په غرونو کې زمونږه پيدا کړې خدائې چينې دي

(۱)

اوبه يې تکې سپينې خوند کې زياتې له ګبينه
صاف په غورځنګونو رابهيږي د تنګينه
موسم د پشکال کې تماشه يې ده رنګينه
غمونه اند ښښنې به دې بهر شي د زړګينه
د خدائې د قدرتونو لوئې نخښې ننښانې دي
په غرونو کې زمونږه پيدا کړې خدائې چينې دي

(۲)

اباد چې پشکال وي نو په درز کې رابهيږي
د کلي ماشومان په مخه زغلي خوشحالېږي
د يو د بل د ضده په لامبلو نه مړيږي
توپونه وهي ډنډ ته يو د بله مخکښې کيږي
ملګرو څه عجبې تماشې او ننداري دي
په غرونو کې زمونږه پيدا کړې خدائې چينې دي

(۳)

کچه غونډي غرمه کې يا په وخت د مازيګر کښې
حېران به شي که خلقو ته دې اوکتل په غر کښې
ياران ټولي ټولي ورته روان وي په چکر کښې
خالص لکه ميلې چې لګېدلې وي اختر کښې
په غاړه د ډنډونو محفلونه د مزې دي
په غرونو کې زمونږه پېدا کړې خدائې چينې دي

(۴)

د کلي سره خوا کې وړومبې ډنډ د جينکو دے
دوېم بيا کُلپي ډنډ دے دغه لاد تماشو دے
دريم چرګانو ډنډ دے ورپسې بل د سړو دے
پنځم د ټولو لوې ډنډ مشهور په ګناوو دے
ګاتې دې هېره مه شه پرې اوبه چپې چپې دي
په غرونو کې زمونږه پېدا کړې خدائې چينې دي

(۵)

ګاتې باندې اوبه داسې په زور کې راځي ښکته
چې خلق قدرتي ورته رېږي د هيبته
د سپينو پاغوندو پشان ليدے شي خوبصورته
په سر باندې يې لار د تلو راتلو شته دے اوچته

شور څه دے د اوبو خو د درياب خوږې نغمې دي
په غرونو کې زمونږ پيدا کړې خدائې چينې دي

(۶)

نور هم واړه ډنډونه ورپسې شته دے بې شماره
خاص کړي دي لامبلو له سړو د ځان دپاره
پرده يې ترې تاو کړې وي د ګټو مزبداره
که چا له مېلمانه ياران دوستان راشي د باره
د بره سر يخ د لاندې سمې ځان ځان له ديرې دي
په غرونو کې زمونږه پيدا کړې خدائې چينې دي

(۷)

د بره سريخ د لاندې لوي واړه جمع بلا شي
پخېږي غوښې روژې خلق ټول په مشغولا شي
چرګان پکښې حلال شي لايې ښه مزا پيدا شي
ورغومي پکښې هم وي مېلمانه چې د چا راشي
په سوري ورته ناست وي قدرتي ګټې پرتې دي
په غرونو کې زمونږه پيدا کړې خدائې چينې دي

(۸)

پخلي ورپکښې کړي وي هر چا د خپلې خوښې
په سوري ورته ناست وي که څوک روژې خوري که غوښې

اوبـــه د څښـــو دپـــاره د چينـــو نـــه راوړي يخـــې
نيـــولي دي نېـــزو ډنـــډ د دې ټولـــو چينـــو مخـــې
مثـــال يـــې چرتـــه نشـــته دے لـــرې ورځـــې شـــپې دي
پـــه غرونـــو کـــې زمـــونږه پېـــدا کـــړې خـــدائې چينـــې دي

(۹)

مثـــال يـــې چرتـــه نشـــته دے پکـــار يـــې احتـــرام دے
د ســـوات معلـــم جبـــه ده کـــه بحـــرين دے کـــه کـــالام دے
ښائســـته د فضـــا ګټ کـــه مـــازيګر دے کـــه مانښـــام دے
هـــم داســـې مرغـــزار کـــې زړۀ رانښـــکونکے انتظـــام دے
دا ټـــول بـــه تـــرې لـــوګے کـــړم زمـــا غرونـــه کـــه درې دي
پـــه غرونـــو کـــې زمـــونږه پېـــدا کـــړې خـــدائې چينـــې دي

(۱۰)

مـــنم چـــې پـــه دنيـــا کـــې کـــه بادشـــاه دے کـــه فقيـــر دے
تـــر غـــوږو رســـېدلے د هـــر چـــا دغـــه تقريـــر دے
متـــل دے وائـــې خپـــل وطـــن هـــر چـــا باانـــدې کشـــمير دے
اکملـــه! لېونيـــه خـــدائې د هـــر چـــا ســـبب ګيـــر دے
دے صـــبر پـــرې پکـــار چـــې د چـــا څـــه قســـم حصـــې دي
پـــه غرونـــو کـــې زمـــونږه پېـــدا کـــړې خـــدائې چينـــې دي

جنګونه مه کوئ

کښېنئ په قلاره پښتنو جنګونه مه کوئ
هېڅ به ترې جوړ نه کړئ لېونو جنګونه مه کوئ

(۱)

کښېنئ په قلاره جنګونو نه جوړېږي څه
هسې د شرونو فسادونو نه جوړېږي څه
خپلو کې د يو بل د قتلونو نه جوړېږي څه
دې د ځناورو د خويونو نه جوړېږي څه
بدي ښکارئ نور لکه د سپو جنګونه مه کوئ
کښېنئ په قلاره پښتنو جنګونه مه کوئ

(۲)

څو پورې به خپلو کې يو بل باندې رانښتي يې
وينم چې د خلقو د نظره هم پرېوتي يې
ختم شوئ کم عقلو دا د چا په خوله تېروتي يې
چل د وتو نه درځي اوس ښه پکښې کېوتي يې
بس دے نور په پولو په پټو جنګونه مه کوئ
کښېنئ په قلاره پښتنو جنګونه مه کوئ

(۳)

ځان مو په تا وې ما وې لفظونو باندې ختم که
مال مو په تاڼو اوتحصیلونو باندې ختم که
ژوند مو څه بې ځایه په جېلونو باندې ختم که
تاسو خپل عزت په دې چلونو باندې ختم که
دا خو سړیتوب نه دے سړو جنګونه مه کوئ
کښېنئ په قلاره پښتنو جنګونه مه کوئ

(۴)

نن چې په خپل جهل کلک ولاړ یئ خطائي کوئ
دا خو مو د خپل راتلونکي نسل تبائي کوئ
تش شرونه نا ژوبلې مرګونه سېوائي کوئ
بیا چې لاپه یو بل د دروغو ګوائي کوئ
ورک به شئ په ضد او په پښتو جنګونه مه کوئ
کښېنئ په قلاره پښتنو جنګونه مه کوئ

(۵)

تېر دې وي په هېر باقي وعده په صداقت اوکړئ
یو بل ته تر غاړه وزئ مینه صحبت اوکړئ
مشر له عزت په کشرانو مو شفقت اوکړئ
لمسې د چا مه اورئ په دې ټکي غیرت اوکړئ

کـــور کـــې پـــه خبـــرو د وړو جنګونـــه مـــه کـــوئ
کښـــېنئ پـــه قـــلاره پښـــتنو جنګونـــه مـــه کـــوئ

(۲)

يـه خلقـو! دا څـۀ کـوئ خپـل ځـان پوهـه پـه پتـه کـړئ
لاسـو کـې راپورتـه کـړئ قلـم توپـک تـرې ښـکته کـړئ
ځـــان بهـــر د علـــم پـــه رڼـــا د جهالتـــه کـــړئ
مـــه ګرمـــه وئ نـــور خلـــق ځانونـــه ملامتـــه کـــړئ
خپلـــو کـــې پـــه لمســـو د پـــردو جنګونـــه مـــه کـــوئ
کښـــېنئ پـــه قـــلاره پښـــتنو جنګونـــه مـــه کـــوئ

دا چې زړۀ لرمه وريت لکه تيکه
بار ويشتلے يم د سترګو په سيکه
په مرض د عاشقۍ چې څوک بيمار شي
همېشه به يې وي خوند د خولې پيکه
څه په چل د کمر سر له اشنا بوتلم
رقيبانو راله راکړله ديکه
ښکلي داسې توله په مونږه زورور دي
لکه زور چې لري څنګه امريکه
چې په سترګو دې ښه نه لګي **اکمله**!
خامخا په داسې خلقو څه ليکه



ما باندې داسې کوډې کړي جانان
ملګرو هر څه رانه وړي جانان
مرګ تري نه ښه دے داسې ژوند څه کوم
چې د رقیب په خوله مې شړي جانان
لاس یې زما مخکښې په بل واچول
ورغلے زخم مې راسپړي جانان
پوره مې نه شو ارمانونه د زړۀ
دغسې پاتې کړه نیمګړي جانان
وایم دې خپل ځان سره څه چل اوکړم
ډېر ستړے کړے یم زړۀ ستړي جانان
لکه د خوړ د غونډو کانړو په شان
د برغو لاسو نه مې رغړي جانان
دا په خوروا شو سبو چا عادت که
زما د لونګ او د سرګړي جانان
اکمله! نن یې راته نیت ښه نه دے
چې مې د لاسو پښو نه تړي جانان



په ارمان لکه د مچ منګلې مروړه
تاته چا وې چې د خلقو ګوتې تروړه
اوس د خپلې بربادۍ خوبونه وینه
د بالښت په ځائې دې سر کېږده په پروړه
څوک په وس سره تاوان ته غاړه نږدي
نوے هر سړي ته ښه ښکاري د زوړه
سره دواړه په یو شان لازم ملزوم دي
سور دتوده پېدا کېږي تد د سوړه
عاقبت د ډېرې لوږې ن هلاک شي
چې بې خدایه وږے طمع کړي د موړه
یار مې پېتې د غمونو راته پرېښول
خوشحالي یې په بدل کې رانه یوړه
ښکلو هېڅکله هم ځان ملامت نه که
خو اکثر په بل وراړۍ خپله غوړه
وخت چې ورکړله په مخ چا له تتوړه
اے **اکمله**! هغه تل ګرځي ناجوړه

Download from: aghalibrary.com